واحد فقيري ۲۰۱۷/۰۳/۱۸

# د مجروح ځانځاني ښامار ته يو سياسي نظر

څه موده کېږي چې زما پخوانی يار او دوست ګران ملا جان (عبدالهادي عطايي) امريکا ته راستون سوی، او له نيکه مرغه يو کرت بيا د واشنګټن د ساحې د افغان – امريکن د ټولنې غړی سوی دی. د ملا جان او زما اشنايي کلونه کلونه مخکې (ښايي ۱۹۹۰) دلته په واشنګټن کې وسوه، او له اولې ورځې مو ملګرتيا سره ټينګه سوه. ځکه اصلا د يوه ښار خلګ يو، او ډېر ژر مو سره وپېژندل. ملا جان تحصيل کړده، د پښتو ژبې وتلی شاعر، او د تېرو منطقو او پراخو تجربو خاوند دی. په شخصي لحاظ، ملا په طبع او مزاج کې څه توند او يکه تاز دی. او ياران ئې کم او محدود دي.
په فرهنګي ساحه کې، ملا جان زما د ټاپو ادبي بحثونو له انډيوالانو څخه دی. ادبي ذوق او خيال ئې اوچت او بارز دی. تصادفا مو په شعر او ادب کې شوق او انتخاب ډېر سره نژدې دی. البته دی د ښکلو، مستو، او ابدي مفاهيمو شاعر دی، او زه فقط د ټاپو او ناب کلام ستايونکی يم. زموږ د ادبي او فلسفي بحثونو يو محوري بحث د ځانځاني ښامار مختلف ابعاد او مفاهيم دي. ځانځاني ښامار د استاد بهاوالدين مجروح له مشهورو فلسفي او ادبي اثارو څخه دی. د پښتو په ژبه او فلسفه کې ټاپ منظوم معاصر اثر دی. مجروح د کابل په پوهنتون کې د ملا استاد وو، او ملا جان ترې ښې خاطرې لري.
په ۲۰۱۶ کې، د واشنګټن ساحې ته د ملا جان د بيا راتګ سره سم مو يو کرت بيا له سره پر ځانځاني ښامار باندي خپل پخواني بحثونه راپيل کړل. د ملا سره پر ځانځاني ښامار باندي د دېمداره ټيلفوني مرکو په ترڅ کې ما ځانځاني ښامار څو ځله سر تر پايه بيا وکوت. په متحوا، پيغام، او شکل مي څه نور هم سر خلاص سو. او کرار کرار مي خپل پخواني او اوسي نوټونه سره راغونډ کړل، او په نتيجه کې دا ليکنه ترې جوړه سوه.
له دې لنډي مقدماتي خبرو راوروسته، زه به پدې ليکنه کې هڅه وکړم چې د استاد بهاوالدين مجروح ځانځاني ښامار د سياسي فلسفي په چوکات کې وڅېړم. د مجروح ځانځاني ښامار د سياسي فلسفي په تيورک چوکاټ کې رامحدودول په خپل ذات کې د مجروح د اثر هر اړخېزه مطالعه نده، او نه هم ليکوال د دې ادعا لري.
له دې ابلاغ څخه راپس، زما باور دا دی چې استاد مجروح په ځانځاني ښامار کې د يو سياسي انقلاب او بدلون لپاره کمپين کوي. زما ګومان دا دی چې مجروح صاحب په هغه زمان کې نه سوای کولای چې د وخت د استبداد په وجه خپل انقلابي پيغام د يو سياسي نثر په شکل خپور کړي، نو بنائې خپل سياسي پيغام په يو نوي ادبي فورم کې بيان کړ.
د ځانځاني ښامار ژبه سمبوليکه ده. ترکيبات ئې ځانګړي او ناب دي. لغات او عبارات ئې د يو متفکر مغز محصول دي. مفاهيم ئې جامع او سياسي دي. ژبه او کلمات ئې تعبير او تفسير ته اړتيا لري. او د هر عصر او زمان د خلګو په درد خوري. هر عصر ئې د خپلو ضرورتونو سره سم شرح او تفسيرولای سي.
د نورو مهمو سياسي فلسفي آثارو په شان، د مجروح ځانځاني ښامار هم خپل مخصوص کرکترونه، مفکورې، مدينه فاضله، هدف، او مقصد لري. د ليکوال ګومان دا دی چې د کتاب د کرکټرونو او اساسي مفکورو څه معرفي او شرح د داستان له اصلي او محوري مفکورې د تشخيصولو او درکولو سره مرسته کوي. او د کتاب د اصلي مطلب له اخيستلو سره کومک کوي. نو بناً، اول به زه دا کرکټرونه څه معرفي او وسپړم. او بيا به وروسته په ګډه اصلي داستان ته ور ننوځو:

## لاروی:

«د نيمو شپو لاروی» د مجروح په ځانځاني ښامار کې اصلي او کليدي کرکټر دی. او د کتاب د درک او افادې لپاره بايد هر اړخېز وپېژندل سي. ځکه د داستان اصلي هيرو لاروی دی. او د ده معرفت تر ډېر حده د ځانځاني ښامار د اصلي موضوع پوره فهم او هضم دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

د مجروح لاوری یو مفکر او اگاه انقلابي دی. د یوې استبداد ځپلي جامعي یو مبارز روشنفکر او رفورمیسټ دی. د ازادي او حریت مدافع دی. د استبداد او دیکتاتورۍ یو نه پخلاکیدونکی مخالف دی. د خپل وخت موسی، سقراط، سید جمال الدین افغان، گاندي، او چه گوارا دی.
په عین زمان کي، د ځانځاني ښامار لاروی یو صمیمي او اشنا ښاري (سیتیزن) هم دی. هغه په ځانځاني ښامار کي سمدستي خپل ځان را معرفي کوي. د «زه»، «زما» او «ما» په صمیمي ضمایرو باندي راسره خبري کوي. له لوستونکی سره راساً، مخامخ مکالمه او صحبت کوي. او په خپلو عامو ویناوو کي عموماً ټول بنیادمان مخاطبه وي.
د مجروح مبارز لاروی د لیډرشیپ خاصه کاریزما لري. او کله چي په ښار کي مبارزه او انقلاب پیلوي، لکه سقراط تل د خلکو په اجتماعاتو کي انقلابي او افشاگرانه نطقونه کوي. د ښار حاکم نظام غندي، او د بدلون غوښتنه ئي کوي. او لکه سقراط د نوي خدایانو په عبادت او رواجولو تورنیږي. دغه زار، د مجروح فیلسوف لاروی لکه سقراط د خلکو څخه تل سوالونه کوي. او د سوالونو د مطرح کولو له لاري خلک اگاه کوي. او د خپل زمان په بحراني حالت کي د نورو انقلابي مشرانو په شان په ښاریانو کي د صادق، پاک، متقي مشر په توگه مشهوره کیږي.
د مبارزې په لومړیو کلونو کي د ښار خلک د مجروح لاروی «مجنون او لیونی» بلي، او په عامو مجلسونو کي ئي «تمسخره» وي. خو ځیني نور ښاریان د لاروي انقلابي فعالیت او ویناوي خطر ناکه گڼي. هغوی په ښار کي د لاروي هسي بي قیده او بي نظارته گرځېدو او فعالیت باندي اعتراض کوي. او د لاروي پر خلاف د یوه اقدام او بند و بست غوښتنه کوي.
څه تجویز ورته پکار دی. (۱۵۸)
خو د مجروح د مبارز لاروي د نه ستړي کېدونکي هلو ځلو او نطقونو راوروسته کرار کرار د ښار عام او خاص اوسېدونکي په درنه سترگه ورته گوري. په وروستیو مرحلو کي خو یې ځیني ښاریان حتی «کرامات او بزرگي» ته هم عقیده پیدا کوي. د زماني په تېرېدو سره ئي په ښار کي سیاسي او اخلاقي دبدبه زیاتیږي. او د سیاسي تقوا شهرت ئي دونه جگیږي چي حتی د ښار ستر مستبد ټولواک خار تري خوري.
له مجنونه بیره ډار ورته پیدا شو. (۱۷۷)
د کتاب په اولو صفحو کي استاد مجروح راته وایي چي د ځانځاني ښامار د سیاسي حماسي متفکر لاروی د ښار په نخبه گانو او منورینو کي ټاپ مقام لري، او د ښار په اجتماعي او فرهنگي حقلو کي د نوم او نښان خاوند دی. او د خاص نظر څښتن دی.
د ولس په هوښیارانو کي هوښیار وو،
سوچ وهل فکر کول ئي کسب او کار وو. (۹)
په پورته نقل قول کي د لاروی د معرفت په باره کي کلیدي کلمات دا دي چي هم پوه او هم لایق وو، او هم ئي تفکر «کسب او کار» وو. د ځانځاني ښامار په حاشیه کي مجروح خپل لاروی د فرانسي د وجودي فلسفي مشهور فیلسوف ژان پال سارتر رامعرفي کوي. د سارتر فلسفه یو انسان محوره عقیده او طرز تفکر دی چي د جهان واقعي او فلسفي وجود د انسان د فکر محصول گڼي.
د مجروح متفکر لاروي د خپلو مطالعاتو او سوچونو په بهیر کي تل د جهان، کایناتو، او کهکشان اسرار پلټي. تل ئي د کتابونو او تحقیق سره سروکار وي. د فردي او اجتماعي ژوندوانه رازونه او قوانین لټي. د تېرو ولسونو تاریخ لولي. د پخوانیو زمانو مبارزې تحلیل او تجزیه کوي. د ازادۍ د حاکمیت د دوران ښي خاطرې یادوي. د عام امن، سراسري مساوات، او سپین او سمسور سباوون څخه زیاتي افساني او خاطرې بیانوي. د مجروح لاروی په خپلو عامو ویناوو کي د پخوانیو طلایي زمانو په هکله ناستالجیک ښکاري. د تېرو سمسورو، ښادو، او ابادو وختونو خبري کوي. د مساوات، اجتماعي عدالت، او د یو داسي پېر خبري کوي چي نه مریی او نه بادار وو.
انسانانو لا موندلی چیري نه وو
غلامی او باداری چل (۲۱)
د مجروح لاروی یو جهان دیده او تحصیل کرده منور دی. له غمونو او خوشحالیو سره اشنا دی. له تندو او لوړو سره بلد دی. هم ئي آباد او سمسور کلونه تېر کړي دي، او هم ئي تکلفیونه او زحمتونه گاللي دي. د خپل ژوندانه په بهیر کي ئي ماتي او فتحي لیدلي دي. کړاوونه ئي گاللي دي. او د خپل نفس د تزکیي په جریان کي ئي سیاسي تقوا، ولسي باور، او یو مرموز الهام اراده ور فولادي کړي ده.
ما ملکونه هیوادونه ډېر لیدلي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په صحرا کي ما اوږدي مزلي کړي
ځيني ځيني حقايق مي دي موندلي
څو رشتيا رشتيا خبري مي راوړي (۱۰)

د تاريخ د مطالعي او سفرونو په ترځ کي، د مجروح لاروی د ړنګو ښارونو، ورکو تمدنونو، او د بربادو اقوامو سره مواجه سوی دی. دي تاريخي سفرونو، د مجروح متفکر لاروی دېته متوجه کړی دی چي ولي تمدنونه خراب او ړنګېږي؟ ولي ازادي په ديکتاتوري بدلېږي، او بيا څرنګه ديکتاتوري په ازادي اوړي؟ د ازادئ او استبداد تر مينځ د نه پخلاکيدونکی جنګ، جدل، او ديالکتيک محرکه قوه کشف وي. يوه نوي د تاريخ فلسفه بيانوي. د مختلفو اقوامو عروج او زوال تحليل او تجزيه کوي. د نور او ظلمت، د عدالت او ظلم، او بالاخره د ازادئ او ديکتاتورئ تر مينځ د دايمي ديالکتيکي جدل کيسه بيانوي.

دلته ښار و اوسېدل پکي ښاريان آزاد سرمسته
نه بي بي وه، نه بادار نه فرماندار وو،
نه نوکر وو، نه مريان نه وينځي مينځي. (۱۶۰)

د خپلو اوږدو سفرونو، مطالعي، تفکر، او الهام په جريان کي، د مجروح انقلابي لاروی بالاخره دي ټکي ته رسېږي چي سياسي «استبداد» او اختناق د زړه چينه وچوي. ديکتاتوري ښارونه په کنډوالو بدلوي. اقتصاد او تجارت خرابوي. محيط او چاپيريال ته صدمه رسوي. ببره او خوف ايجادوي. خندا او مينه وژني. په خلګو کي غم او خپګان ډېروي. ابتکار او پرمختګ وژني.

ښار د اوسپني کلا وه،
دروازې ئي تل تړلي.
ځکه هيڅا نور په ها خوا ګذر نه کړو.
چمنونه شنه باغونه پاتي نه وو.
هره شپه سره سيلۍ وه،
خاوري دوړي بادېدلي
ځنګلونه جل وهلي، وني سوي
غرو څېره وه بدله کړي
ټول خړپړ په ايرو رنګ وو.
هم سيندونه، هم خوړونه، وچ پراته وو. (۳۷)
...
کومي لاري لوی لوی، چي ورتلي د ښار په لوري
هغه ټولي ورکي شوي، په زوزانو، په اغزو کي.
کاروانونو نور ګذر په دي خوا نه کړو،
چرته ليري تېرېدل په نورو سيمو. (۳۸)

ستبداد نه يوازي د زوړنو چينه وچوي، او محيط او اقتصاد زيانمنوي، بلکي له ښار او تمدنه د خلګو د فرار باعث هم ګرځي. په ښار کي د نفوس د کمېدو سبب ګرځي. ښاريان مهاجرت ته مجبورېږی. د ديکتاتور د «بي دليله فرمانونو او امر او نهي» له وجي خلګ په تنګېږي.

خلګ دومره شو بېزاره،
چي ځوک لاړل فراري شول، ځوک
د مرګ پنجو ته ورغلل تسليم شول.
باقي پاتي چرته پټ شول په غارو کي. (۵۷)

لاروي چي کله له يوه اوږده غيابت او مسافری را وروسته خپل ښار ته - مانا تمدن او اجتماع ته - راستون سي، همدا ترخه حقايق د ښار ستر مستبد ټولواک ته په عام محضر کي اظهاروي. لاروی د ښار ستر فرمانروا په ظلم او تيري باندي متهموي، او د ازادئ د بندي کولو الزام باندي لګوي. پدې سترو او عامو انقلابي جرګو کي د مجروح مبارز لاروی د ښار د ستر ديکتاتور د دار او خوف طلسم ور مات او دړي وړي کوي. پدې لويو غونډو کي لاروی خلګ انقلاب ته رابلي. د استبداد او ديکتاتوري د بت ماتولو ته ئي رادعوته وي. د واهي ځنځيرونو شکولو ته ئي رابلي. د جيلخانو ماتولو ته ئي رالمسوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

پاڅئ پاڅئ!
زندانیان واړه آزاد کړئ!
زنځیرونه زولنې کړئ ماتې ماتې.
****
اې واکداره! اې زمامداره!
ستا سقوط ستا انحطاط خو زه ښه وینم
ستا په بېره ستا په ډار کې (۱۷۷)
****
هغه واړه ارواګانې، دوړخیانې
قدرتونه د عشق مینې آزادې ټول
زندانې په جیلخانو کې
یاغې شوې انقلاب کړې (۸۴)
****
اې ښاریانو! ښه خبر شئ
ستاسو ستر واکدار بادار خو،
تور ښامار دی،
تاسو واړه بندګان یاست غلامان یاست
د ښامار. (۱۶۶)
مدنیت او ښار ته د راستنیدو سره سم، د مجروح لاروی ګوري چې د ښار خلګ په دایمي ډار او خوف کې ژوند کوي. د استبداد تر حاکمیت لاندې ښاریان مات او زبون سوي وي. د ټولو ښاریانو په زړونو کې د وهم او ډار ښامار ننوتلی وي. د هغوی ارادې ئې ور کمزورې او رنځورې کړې وي. او د زړه چینه ئې ور وچه کړې وي. له خپل سیوری ډارېدل ټول. (۳۴)
په بل عبارت، د ښاریانو په زړونو کې د وهم او بې ارادګۍ تور بلاه ناسته وي. او دا تور بلا هغوی په خپل لاس پر ځان باندې مسلطه کړې وي. په ځانځانې ښامار کې د مجروح د فیلسوف لاروي په قول، «دا بلا ستاسو بلا خپله بلا ده.» لاروی خلګو ته وایي چې تر څو چې تاسو په خپلو زړونو کې د ډار او بې ارادګۍ ښامار مړ نه کړئ. تاسې به کله هم د نجات ښاد او سمسور ساحل ته و نه رسېږئ. تاسې به کله هم د سولې او امن سپین سبا و نه ګورې.
که دا بېره شي زایله
دغه ډار او واهمه له مینځه لاړ شي.
نو ښامار یو ځل سقوط کړي، نابود کېږي. (۱۷۵)
لاوری خلګو ته وایي چې د ښار د حاکم ښامار زور او قدرت فقط ستاسو په زړونو کې پروت دی. لاروی ښاریانو ته وایي چې د ستر ټولواک لویه پانګه ستاسو ډار او بې ارادګي ده. که چیرې تاسو له خپل زړه څخه دا ښامار لیرې کړی، استبداد خود په خود یو دم سقوط کوي. لاروي ډارېدلي ښاریانو ته وایي چې د استبداد طاقت او بقا فقط ستاسو په ذهن او زړه کې ده. تاسو پخپل ذهن کې زنداني یاست. همدا ستاسو اصلي سیاسي او اجتماعي رنځ دی.
ستاسو زوړونه هدېرې دي، پکې ښخې د امواتو خاطرې دي. (۱۵۴)
****
خبر نه یاست تاسې مړه یاست.
روح مو مړ دی، فنا شوی.
تاسو ټول خو بس یوازې، اشباحګانې بې ژوندونه خیال او خوب یاست. (۱۵۶)
د مجروح لاروي باور لري چې د انسان لوی دوست او دوښمن پخپله انسان دی. او د انسان په طبیعت کې له ازله تضاد او جدل اینودل سوی دی. په بل عبارت، ادمیان په فطرت کې دوه ګونه دي. د ښه او بد مجموعه دي. څرنګه چې د مجروح د انسان په فطرت کې د ازادي او استبداد نطفه پرته ده، نو بنا د ازادئ او استبداد تر مینځ به دا مبارزه نه پخلاکیدونکې او ابدي وي. د ازادئ او استبداد تر منیځ به دا ډیالکتیکي جدل شامدام د تاریخ په بهیر کې دوام لري. دا مجادله به تل د انسان او جامعې په ژور بطن کې روانه وي. همدا د تاریخ فلسفه ده. همدا د تاریخ سیر او تکامل دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

ځکه،
یوه ورځ د ورځ ئي دا شانتي بيان کړو:
«تر کوم وخته چې دا زمکه دا اسمان وي،
تل د هر انسان دوږخ به بل انسان وي.»
****
جنهم نه چرته ليري دی نه پټ په بل جهان کي
جنهم د هر انسان دی هر انسان پخپل ځان کي. (۱۰)
****
ځکه پوه شو،
چي له سره بيا شروع سو، يو ځل بيابيا،
زوړ داستان د قهرمان ستر پهلوان ستر،
او د ښکلي رب النوعي الهي د عشق او ميني،
يو ځل بيا له سره پيل شوه
افسانه لويه اوږده د تور ښامار مار. (۱۸۸)
د ځانځاني ښامار د اصلاحپال لاروي په فکر د انسان نجات د خپل ذاتي او دروني ښامار په راکنټرولو کي دی. پر خپل نفس او ايګو باندي په غلبې او تسلط کي پروت دی. لاروی موږ ته نصحت کوي او راته وايي: خپله خودي راايسار کړئ. او خپل ايګو رامهار کړئ. د لاروي په باور له خپل دورني ښامار څخه د خلاصون يوازنی لاره دا ده چي انسان پر خپل نفس باندي مسلط سي. او خپله خودي قابو کړي.
ځکه تر څو چي:
دا ښامار پخپلو زوړنو کي مړ نه کړئ، نابود نه کړئ.
که د نفس بده بلا کړي ځوک نابوده
نو به هله د بلا توري بلا ځوک خوراک نه شي
که د خپل زړګي ښامار مو قرباني کړو،
نو به هلته تاسو نه شئ قرباني د لوی ښامار مار. (۱۶۸)
کله چي رفوريست لاروی ښار ته راستون سي، پدي وخت کي په ټولنه کي استبداد او سياسي اختناق مطلق حاکم وي. په ټولنه کي د «د ببري، وهم، بې چارګي او بې اراده ګي» يو عام احساس او رنځ موجود وي. ډار او خوف يو ساري مرض وي، او ټول ښاريان په اخته وي. د مجروح په ځانځاني ښامار کي د ښار ټول منورين، ليکوالان، نخبه ګان، پهلوانان، ځوانان، زاړه، نر، ښځي، او عام ولس د «ډار او وهم» په رنځ رنځور وي.
فقط ډار او واهمه داسي مرض وو
چي توپير ئي نه د ووړ که نه د زوړ که،
نه د ښځي نه د نر که (۳۴)
****
که مرض د غم خپګان به لړ کلار شو.
که د قهر او غضب تبه به لاړه.
واهمه او ډار هيڅ وخت نه ورکېدلو. (۳۴)
د استبداد پدې دور کي، د ښار منورينو او نخبه ګانو ميدان په ډليزه توګه خوشي کړي وي. زيات شمېر ئي تبعيد او بنديان وي. نور باقي پاتي د ښار په ټونلونو، سب وې ګانو، او د مځکي په ژور تل کي په تورو سمڅو کي پټ او غلي ناست وي، او مدام نشي کوي. مشاعري کوي. شعرونه وايي. د يو او بل پر پوستونو باندي لنډ لنډ کامنټونه ليکي. او وخت په وخت دلته او هلته دانه مانه لايک هم کوي.
کله چي د مجروح انقلابي لاروی ښار ته راسي، اول کار چي کوي هغه دا چي د دغو فراري او بندي منورينو، نخبه ګانو، او هنرمندانو د پيدا کولو په غرض د ښار لاندي تاخانو، سمڅو، او جيلونو ته ور شوه کېږي.
لاروی همدا فراري او بندي منورين او نخبه ګان د ښار په تورو زيرخانو او بنديخانو کي هله هله پوښتنه پر پوښتنه بالاخره پيدا کوي. هغوی هلته لاندي د مځکي په ژور تل کي په نمناکو سمواورونو او هوټلونو کي سره راغونډ وي.
په متروکو قهوه خانو او سټاربکس کي سره جرګه وي. تل لړزانه شمعان ورته لګېږي. خيرن، غوړ، او زاړه مېز او چوکۍ ورته پراتي وي. هري خوا د خلګو څه پټ پوس پوس هم وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

لاروي هغوی داسي مخاطب وي:

اې ګونګيانو! ټپوسانو! ګېډرانو!
دا مستي ستاسو مستي څنګه مستي ده؟ (۱۴۰)
****
اې دوستانو! راته واياست!
له نشو نه له مستی نه مو مراد او مقصد څه دی؟
فقط يو څه:
هېرول د واقعيت دي. نه موندل د حقيقت دی.
له نشو نه هدف څه دی؟
فقط يو څه:
چي دردونه د خودی د ځانځانی لږ څه آرام شي، لږ قلار شي.
او نه دا چي د خودی د ځانځانی څخه آزاد شئ.
له خپل ځانه بهر ولاړ شئ. (۱۴۴)
د لاروي له لنډي معرفي را وروسته اوس وار د ښار د لوی واکدار د پېژندولو دی.

## ستر ټولواک

د ځانځاني ښامار ستر مستبد ټولواک د لاروي دقيق مخالف قطب دی. د يوه ژوند د بل مرګ دی. د يوه عروج د بل زوال دی. او د يوه افتتاح د بل اختتام دی. لکه څنګه چي مو وليدل لاروی د ازادي، امن، او اقتصادي پرمختګ زيری دی. خو ستر ټولواک د استبداد، جنګونو، او اقتصادي رکود پير دی. لنډه دا چي لاروی او ستر ټولواک له يو بل سره نه پخلاکېدونکي تفاوتونه او تضادونه لري.
کله چي د «ټول جهان لوی فاتح» د ازادي وروستی ښار او ملک فتح کړي، هغه پر تور آس سپور وي. دواړي سترګي ئي له سرو وينو ډکي وي. په څېره کي ئي قهر او غضب لمبې وهي. توري جامي ئي اغوستي وي. پولادي اوږده او تېره نېزه ئي په لاس کي وي. ستر ډال ئي تر شا تړلی وي. او د اژدها نقش ئي د خپلي سلطي د نښان په توګه پر ترسيم کړی وي. ډارېدلي ښاريان ئي د استقبال او هرکلي په منظور د سړکانو پر دواړو غاړو باندي کتار ولاړوي، او په حيرت حيرت د ديکتاتور راتګ په چکچکو، شعارونو، ښه راغلاست، او د هورا په نارو باندي بدرګه کوي. پدې ورځ وريځ وي. باران وي. ساړه او تياره وي.
لينده غشي ورسره وو، هم په سر ئي يوه خوله پولادينه. (۲۳)
پدې ورځ، د وينا پر مهال د جهان د لوی فاتح آواز جګ او هيبتناکه وي. او خپله افتتاحيه وينا د فتح سوي ښار ډارېدلي ولس ته په قهرجن لحن داسي پيل وي.
تاسو واياست زه به څوک يم؟
زه خو «زه» يم، زه «ايګو» يم.
درست نړۍ کي پهلوان يم.
لوی فاتح د ټول جنګونو د جهان يم،
لدې وروسته ستاسو ښار زما تابع دی
تاسي ټول د قهرمان تر فرمان لاندي،
که هر څوک زما فرمان ته غاړه نه ږدي،
نو سزا به ئي په دې دم او په هر دم،
هم په دې نېزه وژل وي، څېرول وي. (۲۴)
سمدستي ستر ټولواک ښاريانو ته خپله د وفادارۍ پاليسي داسي اعلاموي: «يا زما سره ياست، يا زما دوښمن ياست.» لوی ليډر مسايل صرف تور او سپين ويني. د هغه په دماغ کي بل څه نه ځايېږي. د جهان فاتح د هيڅ راز مخالفت د اورېدو حوصله نه لري. او عموما ښاريان تحقيروي.
د ښار نوی ديکتاتور د لوړي د مراسمو په پای کي خپله لينده او غشی راوباسي، او د ازادۍ «مسته مسته غرځنه» ښکار کړي. زړه ئي په غشي ور څيري کړي. د غرځني د ښکارولو راوروسته، لوی ټولواک امر وکړي چي د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

ازادئ دا مسته غرځنه باید ورته کباب سي. په دي شان دیکتاتور خپل سقاوت او بي رحمي خلکو ته په اوله ورځ ور وښيي. په ښار کي سمدستي د خپل استبداد او حاکمیت سام خور کړي. ډار، خوف، او چوپتیا ایجاده کړي.
یو ځل لوی عظیم سکوت په هر خوا پلن شو
غرځني لاړي په تېښته.
لویو غرو لیري دښتو ته. (۲۵)
****
زیبایي له ښاره ولاړه
په معبد کي زنداني شوه. (۱۲۵)
سمدستي د استبداد تر حاکمیت راوروسته، له ښاره ټولي هیلي او د ازادئ غرځني فرار کوي. د انسان او محیط تر مینځ جنګ شروع کېږي. او لدې راوروسته، حیوانات له انسانانو ځخه توريږي او ډاريږي.
تریدلي رمیدلي له انسانه. (۲۵)
****
آزادي لاړه له باغه له چمنه.
معماران د عشق او میني
شو راګیر په قید او بند کي،
په سختیو په خوارو کي. (۵۶)
****
هري خواته ریګستان دی، و چي و چي صحراګاني (۱۷۳)
د ستر فاتح د حاکمیت سره سم، په ښار کي انواع او اقسام امراض خواره کېږي. البته، خپله امیر غضب هم د ځان سره ټولني ته یو لړ ساري میکروبونه راوړي. له وجوده ئي تل یو راز «مهلک زهر قاتل» خوريږي. په عمومي توګه یي ګرده ښاریان په دریو مرضونو مبتلا کړل.
یو مرض غم او خپګان وو
بل مرض قهر او غضب وو،
دریېم ډار او واهمه وه. (۳۳)
په ښار کي د تور امیر د حاکمیت سره سم، د خلکو په مینځ کي باور او اعتماد ختم سي. دوستي، اخلاص، او رشتیا ورکه سي. هر څوک جاسوس وي، او هر څوک له جاسوسانو ځخه ډاريږي. په ښار کي توري تیارې خورې وې. سکوت وي. خلک د پخوا په شان په غرونو او پارکونو کي مېلو ته نه ځي. ښاریان عموما په تکلیف او غم ګرفتاره وي. او په ښار کي د غم او خپګان لومړی قرباني:
دا هغه حاذق حکیم د ښار طبیب وو. (۳۳)
د استبداد دومداره حاکمیت ښار په کنډوله بدلوي. د خلکو نفوس کمېږي. ټولواک موجود وي، خو خلک،خادم، مینځه، او غلام نه وي.
تول مړ ښار وو، چپایي وه، هدیره وه.
ښار د اوسپني کلا وه،
دروازي ئي تل تړلي. (۳۷)
ښار یو ستر او عظیم زندان وي. شا و خوا غټ سنګي دیوالونه تري راچاپېر وي. د تور امیر د مانی شاوخوا اغزن سیم او سمیټي دیوال راګرځېدلی وي. ټولواک د ښار خلک په مختلفو کمپونو کي په بېګار لګیا کړي وي. دیکتاتور هيڅ د خلګو تکلیف او عذاب ته توجه نه کوي.
نه یي زمکي نه اسمان ته التفات کړو
قهرمان یوازي ځان ته پام لرو. (۵۷)
د ستر دیکتاتور تر نظام لاندي د ښځو وضع ډیره خرابه وي. هغوی د ټولني تر ټولو کمزوري برخه وي. او شامدام د لوی پهلوان د نظام لپاره په کار او زحمت لګیا وي. د ټولواک یو فرمان دا دی چي ښځي باید تور کالي واغوندي. له سره ځخه تر پښو پوري باید پوښلي وي. په ښار کي بس د طالبانو د دورې غوندي قیودات وي. ډُرې وي او شلاقي وي.
لاروي لیدلي ښځي، له کورونو راوتلي.
غلی غلی په احتیاط ډیر، په خلوت خلوت کوڅو کي ګرځېدلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

جامي توري، سر تر پښو په پردو پټي، ستري ستري. (۱۲۸)
د ستر ټولواک په نظام کي د ښځو مقام راکښته کېږي. هغوی شاقه کارونو ته مجبوره کېږي. د دايمي جنګونو او لښکرو لپاره تل ډوډۍ پخوي. کالي مينځني. د جنګي اقتصاد ماشين څرخوي. تل په غم، خپګان،او ګروم کي په نمناکو کورونو، تيارو تاخانو، او کوچينو او زړو اپارتمانونو کي ژوند کوي. او مدام د امير غضب خدمت کوي.
ښځي بوختي په پخلي شوې،
په خدمت شوې، په هغې ښکلي مانۍ کي،
چي آباد وو د ځوانانو د لاسونو په ټټاکو
په خولو د مړوندنو. (۲۵)
ستر فاتح د خپل حاکميت په دوران کي مدام د غرور او تکبر پر مسند ناست وي. يوازي او منزوي په خپل ارګ کي اوسېږي. شا و خوا مسلح محافظين پرې راچاپېروي. په قصر کي شا و خوا د قدرت تابلوګاني، تصويرونه، او خادمان باندي راغونډوي. د جهان ستر اتل په ځان مين وي. يوه ټوټه خود پرستي او ايګو وي. د ښار په ګوټ ګوټ کي د لوی پهلوان عکسونه او مجسمې ولاړي وي. په ښار کي هر ځای د ديکتاتور د ستايلو په مقصد لوی لوی شعارونه ځوړند وي.
ژوندی اوسي تل تر تله،اي زموږ ګران قهرمانه!
جانشين د ستر ايګو، ستر پهلوانه
رب دي ورکړي ده ته عمر جاويدانه. (۵۸)
په ځانځاني ښامار کي، د تاريخ د فلسفي په حکم د استبداد لوی او دايمي دوښمن وخت او زمان دی. د تاريخ په جريان کي د استبداد بل لوی دوښمن په انسان کي د ازادئ ازلي نطفه ده. د مجروح د تاريخ په فلسفه کي استبداد بالاخره ړنګېدونکی دی. تلونکی دی. اضطراري او تېرېدونکی دی.
د زمان په رنځ رنځور شو
درک احساس د زماني ئي
د ابهام په ډنډ کي ډوب شو. (۵۹)
په پای کي، د ځانځاني ښامار ستر ټولواک يو مستبد ديکتاتور دی. د ستالين په څېر يو جاني شخص دی. د خپل وخت تور امير دی.

**ښار:**

د مجروح په ځانځاني ښامار کي «ښار» د يو مدنيت او يو ملک مانا لري. يوه مدينه ای فاضله ده. لکه نور سياسی متفکرين، د مجروح لاروی هم لومړی دا بحث مطرح کوي چي ولي انسانانو اجتماعي ژوند غوره کړ؟ ولي ادميان په ښارونو کي سره راغونډ سول؟
دا عجيبه تماشه وه،
ناڅاپي مي شوه له سترګو پرده پورته.
د ښاريانو د ژوند رمز شو را برسېره
انسانان ولي استوګنه په ښارو کړي؟ (۱۳)
د انسانانو د اجتماعي او ګډ ژوند په باب د ارسطو مفکوره دا ده چي انسان ذاتا اجتماعي خلق سوی دی، او پرته له ګډ ژوند څخه د خپل ژوند اړتياوي نه سي پوره کولای. د ارسطو په قول په جامعه کي ژوند کول، د انسانانو په ګټه دي. خو د ټامس هابس په عقيده بنيادمان يدې خاطر اجتماعي ژوند کوي ځکه چي يوازيتوب کي ئې سر او مال مصون نه وي. هر څوک پر بل چا تيری کوي. د هابس په نظر په طبيعي حالت کي د انسان ژوند لنډ، تياره، او له وحشته ډک وي. د هابس په قول انسانانو د خپل ژوند او ملکيت د ساتلو په مقصد اجتماعي او ګډ ژوند غوره کړ، او د يو حکومت اطاعت ته غاړه يې کېښېښوده.
خو د مجروح متفکر لاروی د ادميانو د اجتماعي او ګډ ژوند سببونه له «يوازيتوب او تيارو» څخه د انسانانو «ډار» بولي. ځکه خو بنيادمان د شپو په تيارو کي پر رونا باندي راټول وي. هغوی د شپې په تيارو کي له غرونو او تورو سمڅو څخه ليري ښوري. هغوی غواړي چي په جمعي ژوند کي تيارې او تر‌ږمې هيري کړي. هغوی د شپو په تيارو کي د هيبتناکه او ناشنا ارواګانو له راتګ څخه ببربري.
انسانان يوازي يو څه نه ډارېږي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

چي کوم وخت چيرته بهر لاړ شي له ښاره،
بيا ناوخته شي ستانه د ښار په لوري،
توره شپه وي، ترږمې وي،
دروازې د ښار تړلي کلکي پوري. (۱۴)

د ادميانو په افسانو کي، تور غرونه په تيارو کي په حرکت راځي. پيريان او ارواګاني راويښيږي. او ادميان له تکليفونو سره مخامخ کيږي. انسانان ګومان کوی چي د شپي په تيارو کي لوی او جګ غرونه او ګړنګونه راژوندي کيږي.

تور ديوان تري نه جوړيږي.
راژوندي شي اژدها شي،
بيا روان د دشت په لور شي،
کله کله هم نژدې ځي، د ښار پوري دروازې ته،
دا کيسي ټول ماشومان په دقت اوري،
ځکه ځکه په معنی ئې ښه پوهيږي.
او لويان ور باندي خاندي مسخرې کړي.
خو په زړه کي ښه بېريږي پټ لړزيږي. (۱۵)

البته کله چي په ښار کي ازادي حاکمه وي. په ښار کي هر څه ګل ګلزار وي. خندا او خوشحالي وي. مينه او خلوص وي. برابري او مساوات وي. عدل او انصاف وي. ورورولي او صداقت وي. امن او صلح وي. اقتصادي پر مختګ او رشد وي. ښه چمنونه او باغونه وي. مست مست سيندونه وي. ډکي ويالي بهيږي. انسان، حيوان، او طبيعت په يو بلانس او همږغي کي ژوند کوي.

خو کله چي په ښار کي استبداد حاکم وي. ښار د وسپني کلا وي. زندانونه وي. شکنجي وي. فقر، بېکاري، او بېګاري وي. جنګ او جنجال وي. وهل او ټکول وي. ډک سيند په وچ خوړ بدل سوی وي. هر څه جل وهلي وي.

## داستان:

د ځانځاني ښامار د اصلي کرکترونو د لنډي معرفي راوروسته، اوس اصلي متن ته ښه راغلاست. لکه څنګه چي مو ولوستل د مجروح د ځانځاني ښامار يو اساسي او اصلي پيغام سياسي انقلاب دی. يو ولسي قيام دی، يو آزادي بخښونکی سياسي پاڅون دی. د مجروح پدې اثر کي د پرګنو د راغونډولو او را بسيجولو پيغام نغښتي دی. مجروح غواړي چي د ازادي د مينانو، اګاه منورينو، او د ټولني مسول او اګا سياسي قشرونو ته د استبداد پر ضد د انقلاب يوه نسخه وړاندي کړي. د کتاب اصلي طرحه د سياسي اختناق او محروميت پر ضد د يو جوړونکی بغاوت د لاري نقشه ده. يو څرګند انقلابي پيغام دی. په يوه کلام کي، د ديکتاتوري پر خلاف يو عمومي قيام ته د خلګو او منورينو رابلل دي.

کله چي لاروی د نزوا او تفکر په منظور ښار خوشي کړي، او بيابان او غرونو ته مخه کړي، هغه غواړي چي يو عمومي اجتماعي درک او حقيقت پيدا کړي. د مجروح مفکر لاروی د بودا، هرکليز، حضرت محمد، او نورو ديني او اخلاقي مشرانو غوندي د څه وخت لپاره له ښار او جامعي څخه وځي. او يو ښه ګوښه او خلوت ځای پيدا کوي، او هلته د تفکر لپاره يوازيتوب اختياروي.

لاروی غواړي چي د خپل تحقيق او خلوت په جريان کي د اجتماعي ژوند اسرار او رمزونه کشف کړي. د ژوند معنی او هدف پيدا کړي. د تاريخ د جريان فلسفه کشف کړي. او دا کشف کړي چي ولي ازاد خلګ مريان کيږي؟ ولي ازادي او استبداد تل په جنګ کي دي؟ ولي په جامعه کي ديکتاتوري حاکمه کيږي؟ او ولي مستبدين او ظالمان راڅپه کيږي؟

لکه مخکي چي مو وويل د ځانځاني ښامار لاروي دا کشف وي چي ټول ادميان له يوازيتوب او تيارو څخه بېريږي. او همدا سبب دی چي خلګ اجتماعي ژوند کوي. په ښارونو کي اوسيږي.
لدې ژوند څخه مراد څه دی؟
هغه دا دی:
له دې دښت څخه ډير ليري اوسيدل دي،
له دې تورو غرونو سترګي پټول دي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د تياري ترږمی سمڅي هېرول دي. (۱۴)
دغه راز، د مجروح مفکر لاروی دا هم کشف وي چي ولي ازادي په ديکتاتوري بدلېږي، او برعکس څرنګه بيا ديکتاتوري په ازادئ بدلېږي؟ د خپلو تاريخي تحقيقاتو په ترڅ کي د ځانځاني ښامار مسول او اګاه لاروی دا کشف وي چي د ښاريانو «غفلت» د استبداد راتګ ته فرصت برابروي. خلګ غافل وي. په اجتماعي او سياسي امورو کي برخه نه اخلي. د خپل اجتماعي برخليک په مورد کي بي تفاوته وي، او لدی غفلته تل استبداد استفاده کوي، او ښار فتح کوي.
اورېدلي به دوی نه وي؟
چي په تېرو زمانو کي يو لوی ښار وو
د ښاريانو له غفلته،
يو ښامار پر مسلط شو،
چي خوراک ئي انسانان وو. (۱۸)
دلته کليدي کلمات «غفلت» او « ښامار مسلط شو» دي. د خلګو د غفلت له وجي پر ښار باندي ديکتاتور حاکم سي. مانا کوم خارجي علت نه وو، بلکي دروني سبب وو چي زورواک مسلط کېږي. په بل عبارت، کله چي ولس بيده سي، غافل سي، استبداد خود په خوده کاميابه کېږي.
لاروي کشف وي چي د ښاريانو يو بل منفي عادت دا دی چي هغوی د يو بل په ژوندانه کي زياته مداخله کوي. هر يو د بل غيبت کوي. يو د بل د پښو خاوري کاږي.
چي ښه څېر شوم دې دنيا ته،
نو يو بل راز حقيقت راته ښکاره شو،
د ښار خلګ يو پر بل دومره اخته دي،
د يو بل په ښو او بدو دومره بوخت دي،
چي بهر له ځانه نه ځي،
هيڅ نظر په جهان نه کړي.
دلته کليدي کلمات دا دي چي خلګ تل د يو بل ښه او بد څاري. په ښار کي يوه مطلقه ځانځاني وي. هر څوک غواړي چي د بل چا عيب پيدا کړي. او هيڅوک جهان او تاريخ ته نظر نه کوي.
دغه راز، د ښاريانو بل اخلاقي کمزوري دا وي چي خلګ دوه مخي وي. په ژبه يو څه وي، مګر په زړه بل څه وي. خلګ پر يو بل بې اعتماده وي.
خلګ رياکاره او دوه رنګي وي. (۱۴۴)
لاروي دا هم کشف وي چي ښاريان په عمومي توګه سرټمبه او جاهل وي. نصحيت نه مني. له تاريخه پند نه اخلي.
خو ړانده دي عالميان
خو کاڼه دي آدميان
عبرت نه اخلي په يو آن. (۲۹)
کله چي لاروي وروسته له اوږده غيابته بېرته د لومړي ځل لپاره ښار ته د خپل رسالت د عملي کولو په مقصد داخلېږي. هغه ګوري چي استبداد له ښاره کنډواله جوړه کړې وي. او ښار د مرګ په خوب بيده وي. باغونه وچ وي. اقتصاد خراب وي. جنګونه ډېر سوي وي. خلګ ډارېدلي وي. زندانونه ډک وي. سړکان خراب وي. تجارت بند وي. کاروبار نه وي. لنده دا چي ټول مدنيت رنځور وي. لاروي ګوري چي ديکتاتور هر څه د زوال په لور روان کړي دي. ټول ښار او تمدن له بحران سره مخامخ وي.
لاروی د نيمو شپو چي يو ځل ښار ته خپل راستون شو،
د ښاريانو په خندا به ژړېدلو،
د ښاريانو په ژړا به خندېدلو. (۱۳۰)
په ښار کي تر تحقيق او مشاهدي را وروسته، لاروی دې نتيجي ته رسېږي چي په ملک کي د ولسي انقلاب لپاره شرايط برابر دي. هغه ګوري چي ستر ټولواک منزوی له خلګو څخه ليري پخپله شانداره مرمري ماڼی کي يوازي اوسېږي. د خلګو په حال هيڅ خبر نه وي. د ښاريانو مشکلات نه سي حلولای. خو ديکتاتور تل په خپلو اړدو ويناوو کي خلګو ته وايي چي دی «مرکز د ټول عالم» دی. او د زمکي او اسمان «واکداره» دی.
نه ئي زمکي نه اسمان ته التفات کړو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

قهرمان یوازې ځان ته پام لرو. (۵۷)
پدې وخت کې، لاروی تل پدې باره کې سوچ کوي چې څرنګه ښاريانو ته خپل رسالت بيان کړي؟ څرنګه ښاريانو ته خپل انقلابي پيغام ورسوي؟
د ښار خلګو ته به څه شان رسومه،
خپل پيغام اوس؟ (۱۸)
ښار ته له راستنېدو څخه راوروسته، د مجروح انقلابي لاروی اول کار چې کوي، هغه دا چې د عامو خلګو په لويو اجتماعاتو کې برخه اخلي او هلته خپل انقلابي نطقونه کوي. لاروی په يوه ستر ښاري جلوس کې ښاريانو ته وايي:
اې ښاريانو راشئ واورئ.
ما ملکونه هيوادونه ډېر ليدلي.
په صحرا کې ما اوږدې مزلي کړي.
توري شپې په ما راغلي.
په اږدو اږدو مودو هم
د سبا د راتلو لاري ما څارلي.
د تورتمو مغارو په ژور تل کې
تروږمی ما لټولي.
رڼاګاني مي ليدلي. (۱۳۳)
دلته کليدي کلمات «سبا» او «رڼاګاني» دي. لاروي پخپلو لومړيو نطقونو کې ښاريانو ته ډاډ ور کوي چې ده د ازادئ د سپين سبا د راتګ لاري څارلي دي. او په نتيجه کې ئې نور او هدايت تر لاسه کړی دی، او «رڼاګاني» ئې ليدلي دي. دلته لاروي خلګو ته اطمينان ورکوي، او ورته وايي چې ما ته د خلاصون لاره رامعلومه ده. زه کولای سم چې تاسي د نجات ښاد او اباد ساحل ته ورسوم.
خو د خپل مبارزې په لومړيو کلونو او مراحلو کې، د مجروح مبارز لاروی د ښاريانو له عمومي تمسخر او ازار سره مخامخ کېږي. ځيني ښاريان پوري خاندي، ځوک ملنډې باندي وهلي. پدې وخت کې لاروي په ښار کې د مجنون، ليونی، لومېن، او د سياسي خطر په نومونو يادېږي. پدې وخت کې، د لاروي جامي زړې او پينه پينه وي. سر ئې ببر وي. ږيره ئې اوږده او ګڼه وي. او تل موبايل او سيار وي. مدام د ښار په چوکونو او اجتماعاتو کې حاضر وي. پدې تاريخي مرحله کې، د ښار لنډغر، کمعقل، او ابلهان ازار ور کوي. خو لاروي برعکس له ښاريانو سره نرم سلوک کوي، او په پسته ژبه هغوی ته جوابونه وايي. او هغوی ته هدايت او تربيت ورکوي.
کله کله به راغونډ شول
د دې ښار ټول ساده ګان او ابلهان ټول.
لاروی پسي به لاړل.
ځورول آزارول د دوی مقصد و.
لاروي نه به را تاو شول.
بيا پوښتني به ئې کولي ځای بې ځايه.
لاروي خو دې خبرو تپوسونو ځای بې ځايه،
هرګز نه شو ځورولای. (۱۳۵)
****
لاروی نه ځورېدلو.
ځکه ځکه دی اګاه و.
چې په ژوند کې که معنا کومه معنی شته،
دا معنی فقط خندا هسکه خندا ده. (۱۳۸)
په ښار کې تر دې مقدماتي او ولسي مبارزې او عامه پوهاوي را وروسته، زموږ لاروی سمدستي د ښار په نخبه ګانو، منورينو، ليکوالانو، او هنرمندانو پسي پلټني شروع کوي. څرنګه چې د ښار اکثره منورين او نخبه ګان يا وژل سوي، يا بندي سوي، او يا تبعيد سوي ول. نو بنا، لاوری د هغوی د ميندولو لپاره د ښار تونلونو او د مځکې په ژور تل کې زندانونو، سمڅو، او غارونو ته ور شوه کېږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

یوه شپه لاروی د ښار په یوه تنګه او توره کو څه کي را روان وي چي نابېره د مځکی په ژور تل کي د یو غلی شان خندا او ټنګ ټکور آواز اوري. او لاروي پدې ږغ پسي د مځکي لاندي سمڅو، تاخانو، او تونلونو ته ور کښته کېږي. په تنګو او تیارو دهلیزونو کي را تېرېږي. او بالاخره یوې زړې او غټي پولادي دروازې ته دربېږي.
ده زنځیر د دروازې وشرنګولو.
آوازونه د خندا د ټنګ ټکور ناڅاپه چوپ شول،
دروازه ورته برسیره په مشکل شوه
لاروی دننه لاړو.
لویه خونه وه پراخه.
هر خوا شمعي لګیدلي
د دي شمعو په کم نوره پلوشو کي،
تماشا یي د مجلس کړه. (۱۳۹)
کله چي لاروی په سالون ورننوځي، ګوري چي شاوخوا یو غټ محفل وي. ځوانان وي، پېغلي وي. موسیقي وي. شراب وي. جامونه وي، د مستانو مجلس وي. غټ او ډک خمونه هلته په یو ګوټ کي چاغ او ټنډ ولاړوي.
ټولو غږ کړو:
ګوره ځوک دلته راغلی؟
دا زموږ د ښار مجنون دی،
اوس زموږ نن شپه مېلمه دی،
په خیر راغلي اې مجنونه!
دا محفل زموږ محفل ستا خپل محفل دی،
موږ خو واړه ستا په شانه لیوني یو،
ستا په شانه بي خبره له خپل ځانه. (۱۳۹)
لاروي ته د منورینو او هنرمندانو د محفل په ښه راغلاست کي ځو کلیدي کلمات او عبارات سته. اول دا چي دا ستا خپل «محفل» دی. مانا ته زموږ وال یي. زموږ همنظره ئې. بل دا چي ته هم زموږ په شاني «لیونی» یي. ته هم د ښار خلکو مجنون بللی یي. او د ښار امیر غضب رټلی یي.
کله چي لاروی د منورینو، نخبه ګانو، او هنرمندانو دا حال ګوري. هغوی ته سخت په غوسه کېږي. هغوی خپل رسالت او وظیفي ته رابلي، او هغوی داسي مخاطبه وي.
اې کونګیانو! ټپوسانو! ګیدړانو!
دا مستي ستاسو مستي ځنګه مستي ده؟
چي د شپي په تور څادر کي،
د ښاریانو له نظره پټوئ ځان.
دا محفل ځنګه محفل د خوشحالی دی د ښادی دی؟
چي په شړو کنډوالو کي خرابو کي،
زه حیران یم چي دا ولي
هغه څه چي په رشتیا باید ښکاره وي
په دي ښار کي تل پټېږي؟
هغه څه چي باید پټ پنا پنا شي،
په رڼا ئي پرده ګرځي؟
ولي ولي د ښار ټول ریاکاران فریبکاران ټول
ځي معبد ته په رڼا ورځ؟
ولي ولي راستکاران آزاد سرمسته،
په تورتمو کنډوالو کي تل پټېږي؟
په کوم ځای کي چي انسان شته،
هلته سر هلته دماغ شته،
او دماغ کي آزاد فکر مست خیالونه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

نو دا ستاسو ځرنګ سر ځرنګ دماغ دی،
چي هيڅ نه درپکاريږي؟
نو يو کار خو تري نه واخلئ
تري نه کار د پينو واخلئ
په څلورو خو روان ياست،
په سرونو هم روان شئ! (۱۴۰)
پدي مهمي وينا کي، د لاروي اصلي مقصد دا دی چي د ښار فراري منورين او نخبه ګان، او هنرمندان خپلي اساسي وظيفي ته ئي متوجه کړي. اول خپله وينا په پيغور شروع کوي. اي ګونګيانو، ټپوسانو، ګيډړانو! سمدستي ترې پوښتنه کوي چي ستاسو دا «مستي» د څه لپاره ده؟ ستاسو دا د پټو شپو ناستي د څه لپاره دي؟
ايا تاسو نه ګورئ چي په ښار کي شرارت حاکم دی؟ ايا تاسو نه وينئ چي په روڼا ورځ «د ښار ټول رياکاران فريبکاران» معبد ته ځي؟ مانا په ښار کي ځرګند تزوير او تظاهر روان دی. اخلاقي موازين خراب سوي دي. شر او فساد حاکم دی.
بل دا چي ولي «راستکاران آزاد سرمسته» په تورو تيارو کي اوسيږي؟ ولي د دماغ او فکر خاوندان پټ ژوند کوي؟ تاسو ولي پدي باب سوچ نه کوئ؟ تاسو ولي د ازاد فکر مست خيالونه په سر کي نه روزئ؟ په پای کي، يو کرت بيا لاوری په فراري منورينو او نخبه ګانو باندي ملنډي وهي. په تمسخر او طنز ورته وايي: آخر دا ستاسو ځرنګ سرونه او دماغونه دي؟ يو کار خو تري واخلئ. که نور هيڅ نه وي، د پينو کار خو تري واخلئ. «په څلورو خو روان ياست، په سرونو هم روان شئ.»
ځرنګه چي دلته لاروی د جامعي له منورينو او نخبه ګانو سره مخامخ دی، هغوی سمدستي د لاروي له خبرو سره موافقت اعلاموي. سمدستي د لاروي منطق ته تسليميږي. سمدستي ځان ملامتوي. هغه د خپل ليډر په صفت مني. مګر عام ښاريان داسي نه دي، هغوی وروسته له ډيرو هلو ځلو، ويناوو، او استدلال، د لاروي سره همنظره کيږي.
اي مجنونه! ته رشتيا وايي!
په څلورو خو روان يو،
په سرونو تګ پکار دی.
دا سرونه چي زموږ دي،
غير له درده بل څه نه کړي،
دا سرونه دماغونه بس يوازي دردوي موږ ځوروي موږ. (۱۴۱)
لدي ډيالوګ راوروسته، د فراري منورينو يوه استازي خپل نوی مشر (لاروي) ته د خپلي طبقي او قشر د تاريخ او ناخوالو په باب څه بيان کوي. هغه ته ځيني جزييات وايي. هغه ورته وايي چي ځرنګه د ښار ستر ديکتاتور ورته په قهر او غضب سو، او ځرنګه ئي کرار کرار له صحني وايستل. ځرنګه ئي د هغوی افزار، اسبات او الات، او منابعي ګرده مصادره کړي. ډير منورين، د عالي تحصيلاتو خاوندان، او هنرمندان ئي بنديان کړل. او د مجروح اګا لاروي ته ئي دا هم وويل چي دوی کله نا کله د زړو خاطرو په ياد پټ «جشنونه پټ بزمونه» جوړوي. دلته يو پلا بيا د ښار د نخبه ګانو همدا استازی له لاوري څخه داسي پوښتنه کوي:
اي مجنونه! راته وايه!
د جهان فرمانداران ټول،
ولي ولي له مستانو نه ډاريږي؟
لاروی ورته جواب کړو:
له مستانو نه ډار ځکه:
چي مستي کي تل خطر پروت د راستي وي. (۱۴۲)
دلته کليدي کلمه «راستي» ده. ظالمان ځکه له اګاه او مسول منورينو څخه داريږي، ځکه چي هغوی تقوا، راستي، او اخلاقي دبدبه لري. صداقت او ښه شهرت لري.
پدي وخت کي، د مستانو له جرګي څخه يو بل مست له لاروي څخه پوښتي چي ته زموږ په پټو جشنونو کي ګډون نه کوي، خو تل ښاد او خندان ئي. ستا د مست ليونتوب راز څه دی؟
لاروي ورته په دي شان جواب ورکړو:
اي زما خوږو دوستانو!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

خبر نه یاست تاسو څه یاست؟
تاسو واړه قربانیان یاست،
بې ګناهه قربانیان د اژدها یاست.
دا خو هغه اژدها توره بلا ده،
چې د زړه په کندوالو کې ستاسو ناسته ده میشته ده.
خبر نه یاست تاسو څه یاست؟
تاسو واړه زندانیان یاست،
زنځیرونه زولنې درنه چاپیر دي.
دا خو هغه تور زندان دی،
چې په خپل لاس مو خپل ځانته دی جوړ کړی آباد کړی.
د دې ښار مستان چې جشن کړي ښادي کړي.
ته به وې کوم ماتم د مرګ ماتم دی.
په دې ښار کې هوښیاران چې بیا ماتم کړي،
ته به وایې اموات مړي دي اختر کړي خوشحالي کړي.
په رښتیا چې د ریا او دوه رنګي دغه انجام دی.
هغه څوک چې غولول کړي،
په آخر کې د خپل ځان په غولېدو شي.
هغه څوک چې ریا کار وي فریب کار وي
په خپل لاس خپل ځانته دام ږدي،
په آخر کې د دې خپل تزویر په دام کې ځان راګیر کړي. (۱۴۳-۱۴۴)

دلته د مجروح متفکر لاروی د ښار اکا طبقې او قشرونو ته وایي چې تاسو ټول د ستر دیکتاتور د تور استبداد «قربانیان» یاست. تاسو ګرده زندانیان یاست. خو په تاسي کې هم «ریا او دوه رنګي» سته. تاسي هڅه کوئ چې ځان او جهان غولوئ. خو دا کوښښ به مو آخر پخپل دام کې تاسي خپله بند کړي. ځکه د تزویر او ریاکاری انجام خراب دی. د ځان په تاوان عمل دی.

لاروی خپلې انقلابي وینا ته ادامه ور کوي:
اې دوستانو!
راته وایاست!
له نشو نه له مستی نه مو مراد او مقصد څه دی؟
فقط یو څه:
هیرول د واقعیت دی،نه موندل د حقیقت دی.
شرابونه پیمانې ډکې تشېږي،
هدف څه دی؟
فقط یو څه:
چې دردونه د خودی د ځانځانی لږ څه آرام شي، لږ قلار شي.
او نه دا چې د خودی د ځانځانی ښخه آزاد شئ.
له خپل ځانه بهر لاړ شئ.

دلته لاروی یو لړ جدي سوالونه مطرح کوي. لاروی هغوی ته وایي چې ستاسي دا کوښښ چې غواړی د نشو په واسطه اجتماعي مشکلات او دردونه هېر کړئ، دا یوه باطله هڅه ده. ځکه تاسي اصلي مرض. چې عبارت د خودي او ځانځاني ښخه دی، په ځان کې نه وژنئ. له ایګو ښخه ځان نه ازادوئ، بلکې صرف غواړئ چې خپله ایګو تسکین کړئ.

اې زما خوږو دوستانو!
دا ژوندون زما ژوندون خو بل څه نه دی،
یوه تنده سراسر بې انتها ده.
دا هستي زما هستي خو بل څه نه ده،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا یو شوق یو اشتیاق دی نامحدوده،
که شراب خورم نو پکار دي
چې دا هسک هسک اسمانونه،
شي پیالي پیالي جامونه،
که نشه کړم، که مستي کړم،
نو زما هدف دا نه دی چې ځان هیر کړم جهان هیر کړم،
یا ښادي یو څو شیبې لنډي شیبې کړم.
ډیر وخت کیږي له دی هسي لنډو لنډو،
تېرېدونکو ښادۍ ګانو څخه زه یم راتېر شوی.
دا زما شراب خو هسي شان شراب دي،
چې ړانده ړانده چشمان پرې رڼا کیږي بینا کیږي.
دا زما مستي خو هسي شان مستي ده.
چې کانه کانه غوږونه پرې خلاصیږي،
نشه ستاسو خو زحمت لویه خواري ده،
چې پرته ورته په مخکي هوښیاري ده،
بد فرجامه، خاتمه ئې سر دردونه.
او زما په بې هوشی کي بیخودۍ کي،
د خودی د ځانځانی رنځونه تللي تر شا پاتي،
په پراو پراو تري دوري یم راغلی. (۱۴۴-۱۴۶)
اګاه لاروی د ښار روشنفکرانو ته وایي چې تاسي نشي پدې منظور کوئ چې واقعیت او حقیقت هېر کړئ. نشه پدې هدف کوئ چې د ځانځانی او خودۍ دردونه څه ارام کړئ، نه دا چې له ځانپالني او خودۍ څخه ځانونه خلاص کړئ. له خپل ځانه را بهر سئ، او خودپرستي په ځان کي ووژنئ. لاروي وایي ما دا کار ډیر پخوا لا کړی دی. ما خپل نفس پاک کړی دی. ما خپله ایګو وژلي ده. او زه لدې بنده ازاد سوی یم. زما مستي د عامو پرګنو پوهول دي، د خلګو خدمت دی.
اې زما ګرانو دوستانو!
تاسو وایاست چې زه څنګه بې میو مست یم؟
خبر نه یاست،
دا چې زه مستي مستي تل دایمي کړم،
د لیلی سترګي خماري زه پرې مست یم.
ورشئ ورشئ د لیلي سترګو ته ځیر شئ!
هلته هلته لیدل کیږي د هستي خمارستان لوی.
خو ډارېږم چي به تاسو هلته هیڅ شی مونده نه کړئ.
ځکه ځکه د لیلي دیدار د پاره خو پکار ده،
د دي لمر ځلانده سترګي په شان سترګه،
نوراني لویه روښانه،
د لیلي عشق دریاب دی.
ستاسو زړونه تش، ځکونه،
خالي تش حبابونه،
خبر نه دي له محیطه نه خبر له ژور تله.
د لیلی د عشق د پاره،
زړه په کار دی ناپایانه نا محدودوه،
هسي زړه چي که ورتوی ستر اوقیانوس لوی سمندر شي،
په کي ځای شي، په کي ورک شي څاڅکي څاڅکي.
د مستانو مجلس چوپ و،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هرې خواته يو مطلق سکون سکوت و
همه واړه سر تر پايه غوږ نيولی. (۱۴۶-۱۴۷)
دلته لاروی د ښار منوري طبقې ته وايي چې تاسو اول بايد خپل ځان اصلاح کړئ. لومړی خپلې اشتباهات او کمزورياني اصلاح کړئ. د خپل زړه ښامار مړ کړئ. لاروی دلته پر داخلي عنصر باندې زيات ټينګار کوي. لومړی بايد مشران ځانونه اصلاح کړي. د ښار نخبه ګان او مخور بايد ځانونه سپېڅلي کړي. څو د ازادۍ د ليلی د ليدو جوګه سي. د ازادۍ له نعمته مستفيد سي. دا کار هله کېدای سي چې زړونه پاک سي.
لاروي بيا د دوستانو په محفل کې
دا ناشنا خبرې وکړې:
اې دوستانو!
لړ راپاڅئ را ولاړ شئ!
د دې دښت وچ وچ ځنګلونه و چې ونې بې ثمره،
واړه واړه ماتې غوڅې کړئ له بېخه له رېښې نه.
بيا په اور باندې لمبه کړئ،
اغزي غني د صحرا د بيانان خپل.
هم مستان زنځير تړلي په تورتمو تاخانو کې
را آزاد کړئ! زولنې کړئ ماتې ماتې،
هم د زړونو کنډوالې کړئ رنګې رنګې.
کوم ښامار چې په کې ناست دی،
دا ښامار ترې را بهر کړئ.
بيا حلال دغه ښامار کړئ!
د ښامار وينې بيا توی کړئ، په دې سيمه په دې خاورو.
ځکه ځکه:
طبيعت ستاسو نه غواړي قرباني اوس،
لويه سخته قرباني هم،
قرباني د تور ښامار مار.
دا دښتونه، وچ ډاګونه، جل وهلي ځنګلونه،
خزان شوي چمنونه،
واړه تندې دي ځپلې، سختې تندې.
بس يوه تنده: د ښامار د وينو تنده
نو به هله د دې دښت زمکه لمده شي،
ناشنا بوټې به له دې نمناکو خاورو کړي سر پورته.
شين کميس به ئې په تن وي.
شورماشور به شي راپورته په جهان کې،
هنګامې د نوي ژوند به را پيدا شي.
نو به هله د زړګي په نوی کور کې،
نوې نوې ځراغونه رڼا وکړي.
نو به هله د هستی خمارستان لوی،
په هغو آبې چشمانو کې مونده کړئ.
نو به هله در معلوم شي پټ رمزونه پټ رازونه،
د مستی دايم مستی،د آزادۍ د ليونتوب تول. (۱۴۷-۱۴۸)
لاروی د خپلې وينا په دې برخه کې يو مطلق انقلابي دی. د جيلخانو، زنځيرونو، او زولنو د ماتولو امر کوي. د ديکتاتور قتل ته خلګ هڅوي. «دا ښامار ترې را بهر کړئ. بيا حلال دغه ښامار کړئ.» لاروی پدې برخه کې د ښار منورينو يو ټوټال بدلون او انقلاب ته رابولي. ځکه د دې ښار مځکه، دښت، او بوټې د ديکتاتور «وينه»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

غواړي. کله چي تاسو دا کار وکړ، نو هله به تاسي د «دايمي مستی، او ازادئ د ليونتوب» په پټو اسرارو باندي خبر سئ.
دغه شپه عجيبه شپه وه،
د لومړی کرت د پاره،
د ناشنا خبري ټولو اروېدلي د خپل زړونو په غوږونو
د لومړی کرت د پاره، چا خندا تمسخر نه کړو
خلګو نه وي: دا سړی خو ليونی دی.
دغه شپه عجيبه شپه وه.
د لومړی کرت د پاره د دلبر مهرويانو شهلا سترګي،
ځلېدې لکه چيني رڼي د غرو رغونو،
هم د نجونو خورو زلفو پريشانو،
خوړولو تازه عطر د صحرا وحشي ګلونو.
دغه شپه عجيبه شپه وه.
هر هر ګوټ د سرو شرابو سور انګار وو.
د ژوندون عجيبه اور ئي په سينو کي بلولو.
هر هر ځاځکی د سرو ميو يو مشعل و.
کنډوالي د زړونو يو دم ځراغان شوي.
او مستانو د لومړی کرت د پاره،
په مستي خپله نشه کي،
يوه ناشنا مزه موندله.
دا لذت مرموزه خوند د آزادئ وو. (۱۴۸-۱۴۹)
دلته دا شپه ځو واري «عجيبه» يادېږي. پدې شپه چا لاروی تمسخر نه کړ. چا ورته د مجنون خاطب و نه کړ. پدې شپه د صحرا وحشي ګلونو طراوت او عطر خوراوه. د ژوندون مست سيند په موج راغلی وو. په ماتو زړونو، په مايوسو پرګنو کي، په بنديانو کي يو دم د «آزادئ» مرموزه هنګامه ګرمه سوه. يوه تاريخي شپه وه. يو ولسي انقلابي حالت او شرايطو يو صالح او متقي مشر پيدا کړ. او يوې ماتي او بندي منوري طبقي خپل ايډيال قايد وموند. د دې وينا په جريان کي، د مجروح مبارز لاروی د انقلاب بې چون چرا ليډر سو. هغه پدې شپه د منوري طبقي حمايت تر لاسه کړ. که څه هم پدې شپه نوي انقلابي مشر وينا اورډه وه، خو د خوږمنو زوړنو او مايوسو ولسونو د ټپونو لپاره مهلم او ټکور وه. د لاروي دا وينا د يوه نوی تاريخي او سياسي پړپر آغاز وو.
لدې وروسته، لاروی د ښار له تل څخه راوځي، او په عامو ښاريانو کي خپل دعوت او رسالت تبليغوي. يوه ورځ د مازيګر مهال وي، لمر پر لوېدو وي، لاروی ګوري چي د ښاريانو يوه غټه ډله روانه وي. او يو تابوت د ځو کسانو پر اوږو پروت وي. د ښار ستر راهب چي ژړ کميس ئي اغوستی وي، په خورا وقار او تمکين پسي روان وي. کله چي جنازه لاروي ته ورسېږي. لاروي داسي ووې:

اي ښاريانو! راته واياست!
دغه بار ځرنګه درونډ بار دی
چي ئي تاسي په اوږو وړئ؟
او دا ولي په خپل سيورو اوږدو سيورو پسي زغلئ؟
خبر نه ياست چي د سيورو سرعت زيات دی چټک زغلي؟
پسي نه شئ رسېدلائ،
دا درانده درانده ګامونه چي رااخلئ،
ګومان نه کړم چي به ورسوئ تاسي کوم منزل ته. (۱۵۰)
دلته لاروي غواړي چي ښاريانو ته ووايي چي دوی تل په مړو پسي روان وي. دوی ژوند خوشي کړی دی. واقعيتونه ئي هېر کړي دي. د ژوند او مرګ په مانا ندي پوه سوي. دوی د مړګونو، جنازو، او هډيرو خلګ دي. خو راهب ئي نطق ژر ور قطع کوي. او داسي ورته وايي:

ستر راهب ورته په قهر وکتلې.
په ترخه ژبه ئې داسې جواب ورکړو:
ستا هستي ده يوه ونه،
بې ثمره وچ اغزنه،
نه احساس د خوشحالی کړي نه د غم کړي.
زړه دې تور لکه لوګی دی هسی کلک کله ډبره.
نه د ژوند در سره سودا شته،
نه د مرګ در سره پروا شته.(۱۵۰)
راهب په طنز ورته وايي چې ستا ټوله هستي يوه بې ثمره، وچه، او اغزنه «ونه» ده. مانا ته هيڅ ثروت او ملکيت نه لرې. ته په ښار کې کاروان سرايونه، هوټلونه، او جايدادونه نه لرې. تا مځکې او کورونه نه دي غضب کړي، تا بانکونه نه دي وهلي. ته يو مسکين او غريب سړی يې. بل دا چې ته يو بې احساسه کس يې. نه ښادي پېژنې، او نه هم غم. ستا سره نه د ژوند او نه هم د مرګ پروا سته. مانا ته يو لومړن او بېغم باش سړی يې. يو مزاحم او بېکاره شخص يې. ته غواړې چې زموږ عادي ژوند را مختل کړې.
له راهب سره تر دې برخورد راوروسته، لاروی جنازه خوشي کوي. خلګ تابوت هديرې ته رسوي. هلته خلګ د مړي د ښخېدو مراسم اجرا کوي. راهب ځو دعاوي وايي. پر قبر باندي پخپلي وينا کي د يو بل مرموز جهان په باب داسي وايي:
د دې دنيا خواري څه خواري نه ده،
همه واړه ګذري دي،
رشتيني درد او عذاب دی بل جهان کي چې ثابت دی ابدي دی.
وي: د دې دنيا عزت مال او دولت ته نظر مه کړئ،
ځکه دا شان خاوري کېږي فنا کېږي.
بيا ئې ووې:
بس يوازي،
ښه عمل د لاري مل دی بل جهان کي،
ښه عمل بس قناعت دی اطاعت دی.
دا خالي کالبد فاني دی خاوري کېږي.
مګر روح هيڅکله نه مري، کوي عمر جاويدانه.
دغه روح يوه سپرغی ده،
راوتلي د بقا د اور له زړه نه.
بيرته ځي له هغه اور سره يو ځای کېږي.
روح يو څاڅکی د باران دی،
ځي توييږي په درياب کي،
په درياب د سعادت او نيکمرغی کي تل تر تله. (۱۵۲-۱۵۳)
راهب په ښار کي د دين نماينده دی. او هغه خلګ ها بلې دنيا ته ور بلي. هغه وايي دا دنيا فاني ده. په اخرت کي مو يوازي ښه عمل په درد خوري. او ښه عمل «قناعت» دی. او د امر «اطاعت» دی. بس، د روح خيال ساتئ، او روح دلته مېلمه ده، او مدام غواړي چې بېرته د خپل اصل سره وصل سي.
کله چې راهب د جنازي په مراسمو کي خپل وعظ ختم کړ. د نيمو شپو لاروی يو پلا بيا پاڅېدی، او خلګ ئې داسي مخاطب کړل:
اې ښاريانو!
سيوری مځکی تاسو ټول پسي روان وئ.
دغه سيوری د مرګ سيوری تاسو ټول ور پسي زغلئ.
ما خو تاسو ته ويلي: له دې منډو به هيڅ په لاس در نشي.
خبر نه ياست، ښکار د سيورو آسان نه دی،
سيوری چا نيولی نه دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

لاروي د هغه قبر له سيني نه،
د نمناکو تورو خاورو تازه خاورو،
يو ښه موټی ډک راواخيست.
دغه موټی ئي د خاورو،
د ماښام په نري باد کي په هوا کې،
د مشرق په لور غوځار کړو.
بيا ئي دا خبري وکړې:
موټي خاوري تاسو وليدی چي باد يوړې دوري دوري.
د دې خاورو هره ذره به بيا ژوندون کړي،
مګر نه دا موټی خاوري چي باد يوړې.
او نه دغه موټی خاوري به کوم ژوند دوباره وکړي،
چي دا تاسو اوس اوس کښېښود په دې ګور کې.
خلګو پوه شئ!
نه قطره شته چي درياب کي چيرته توی شي.
ځکه ځکه:
نشته نشته کوم درياب نه سمندر کوم.
نه سپرغی شته چي يو ځای شي د کوم اور د سري لمبي سره.
ځکه ځکه:
لا تر اوسه اوربل شوی چيرته نه دی.
راته واياست: هغه موټی خاوري څه شوې؟
ستاسو پام کرځول شوی دی نيستی ته،
دا خو ځکه چي هستي شي در نه هېره.
ستاسو زړونه هديري دي،
پکي ښخي د امواتو خاطری دي.
دا خو ځکه:
چي په زړه کي مو پيدا هيڅکه نشي،
د حيات سره تړون کوم،
شوق،آرزو د کوم ژوندون کوم.(۱۵۳-۱۵۴)
دلته لاروی خلګ د مرګ او تخريب له لمانځلو څخه ژوند او ابادی ته رابلی. ښاريانو ته وايي چي ستاسي فکر له اصلي ژوند څخه «نيستی» ته ګرځول سوی دی. تاسي ته تر ژوند مرګ مهم سوی دی. تاسي ته پکار ده چي د ژوندون او حيات شوق په زړونو کي وپالئ. د جهان د ابادولو خيال او فکر په سر کي وروزئ. دلته لاروی يو رياليسټ مشر دی. ټول ژوند ژوند دی. د ژوند او اقتصادي رشد خبري کوي. د اګاه لاروي د وينا د دې برخي مطلب دا دی چي دا دنيا آباده کړئ. د دې دينا غم وخورئ. د خپل ځان او بچيانو د مستقبل يوه چاره وکړئ.
اې ښاريانو!
ولي دا پوښتنه نه کوئ له ځانه:
که دا مړی نيکو کار وو، ولي مړ شو؟
نو پخپله به دا هسي ځواب واياست:
چي له مرګ سره د نيکی او بدی څه پروا نشته،
ماروا‌ء دی هم له خيره هم له شره،
مرګ نيستي ده د ښو بدو.
مرګ عدم د خير او شر دی.
د مرګی فکرونه څه دی؟
بس مرګونه د فکرونو.
د مرګي هيله آرزو خو، مرګ د هيلي د آرزو دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي ښي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

که نیکي شته که بدي شته،
بس په دې ژوند او جهان کي موندل کېږي.
او پکار دی،
چي په دې ژوند او جهان کي مکافات شي مجازات شي.
ځکه ځکه بل به نه وي کوم فرصت دا هسي هسي.
هغه څوک چي قناعت کړي اطاعت کړي،
غلامي ته غاړه ژر ږدي،
دغه واړه مجازات کړي.
هغه څوک چي شورماشور کړي بغاوت کړي
دا انسان وړ د ستاینی مکافات دی: (۱۵۴-۱۵۵)
دلته لاروی ښاريانو ته وايي چي تاسو بايد اول ژوند او مرګ درست تعريف زده کړئ. د ژوندانه په اسرارو ځان خبر کړئ، او د دې جهان له ژونده خوند واخلئ. د مرګي فکرونه هېر کړئ. خپل اوسني ژوند ته ملتفت سئ. د ښو او بدو «مکافات او مجازات» بايد دلته وسي. لاروی هڅه کوي چي په جامعه کي د خرافاتو سره مبارزه وکړي، او د خلګو اذهان روښانه کړي. هغوی اصلي دوښمن ته متوجه کړي.
لاروی د خپلي وينا پدې برخه کي يو ځل بيا ښاريان عمومي انقلاب او قيام ته رابلي. ځکه لاروي ورته وايي هغه څوک چي قناعت او اطاعت کړي، هغوی تل غلامي ته ژر غاړه ږدي. لاوری ښاريانو ته وايي چي ظالم او مظلوم دواړه مجازات کړي. مګر هغه څوک چي جوړونکي اعتراضونه، انتقادونه، او «بغاوت» کوي، «دا انسان وړ د ستاينې مکافات دی.»
اې ښاريانو!
خبر نه ياست تاسي مړه ياست.
روح مو مړ دی فنا شوی.
تاسو ټول خو بس يوازي،
اشباحګاني بې ژوندونه خيال او خوب ياست.
تاسو څه ياست؟
بس يوازي يوه هيله بې مفهومه.
يوه تمه نامعلومه د يو بل موهوم ژوندون ياست.
اې ښاريانو!
که اوس هم،
څه در پاتي د ژوندون شوق او آرزو وي،
نو دا مړي لږ څه هېر کړئ،
په ژوندون پسي روان شئ،
که لا اوس هم
که هوس د آزادئ ستاسو په زړونو کي باقي وي،
نو خپل ځانته هسي واياست:
چي تر ټولو زحمتونو عذابونو،
په واقع کي،
لوی زحمت عذاب همدا دی
چي دا اوس پکي اخته ياست.
او تر ټولو درندو پيټو نه دروند پيټی بل يو نشته
واقعي تر ټولو دروند بار خو همدا دی.
چي دا اوس مو په شا پروت دی. (۱۵۶-۱۵۷)
لاوري يو کرت بيا ښاريانو ته پيغور ورکوي، او د هغوی احساسات راپاروي. هغوی پاڅون، ازادي، او انقلاب ته لمسوي. لاوری ښاريانو ته وايي چي تاسي په واقع کي «مړه» ياست. ستاسي هستي او ژوند «بې مفهومه» دي. ځکه تاسو د «موهوم ژوندون» په تمه ياست. لاروي ورته وايي چي ستاسو د نجات لاره دا ده چي خپل ورځني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ژوند ته متلفت سئ، او د ژوندون په مست سيند پسي روان سئ. پخپلو زړونو كي د «آزادی» مشال بل وساتئ.
ځكه ستاسو اوسنی ژوند «لوی عذاب» دی، دروند بار او بوج دی. لدې حالته ستاسو د خلاصون يوازنی لاره ازادي او انقلاب دی.
مګر ښاريان يو وار بيا په لاروي ملنډي وهي. او سمدستي تري جلا كيږي. هغه هدېري كي يوازي پريږدي. نور ئي خبرو او نطق ته غوږ نه اړدي.
دا سړی چور ليونی رشتيا مجنون دی.
يو په بل پسي روان شول، ستنېدل د ښار په لوري.
لاروی هلته هم هغسي ولاړ وو.
هيڅوک نه وو پاتي شوي چي د ده خبري واوري،
بس يوازي هلته دوري،
يو ډنګر كوڅه ډب سپی وو پروت په خاورو.
لاروي ته ئي كتلي چوپ خاموشه.
لاروي خبري كړلې.
دا خبري د ماښام نری وږمي بيا،
وړلي وړلي د مشرق په لوري دوري،
له كوم ځايه چي رڼا د سپين سبا را پورته كيږي. (۱۵۷-۱۵۸)
دلته مجروح د انسان په تاريخ كي د انقلاب د مشرانو مشكلات بيانوي. د بشر په تاريخ انقلابي مشران تل د خپل رسالت په اولو كلونو كي يوازي وي. خلګ باندي خاندي، او ملنډي باندي وهي. ياران ئي كم وي. مخالفان ئي زيات وي. مګر په آخر كي نه يوازي پرګني د پاكو او متقي مشرانو سره يو موټي كيږي، بلكي طبيعت هم د هغوی ملګری كيږي. خبري او پيغام ئي د سحر نسيم پر خپلو پستو اوږو باندي د مشرق په لوري وړي، او هغه ځای ته ئي رسوي چي روڼا او سپين سبا تري راخيږي. اميد او نور تري راپورته كيږي.

د لاروي شهرت په ښار خوريږي:

د وخت په تيرېدو سره، اكثره ښاريان لاروی پيژني. په نر او ښځو كي ئي د شهرت اوازه هر خوا خوره كيږي. د ښار ځيني خلګ وايي چي لاروی په يو «ليونتوب» لګيا دی. ځيني يې د توقيف او نظر بندی حمايت تجويز كوي.
په دې هسي شان بې قيده ګرځېده ئې ښه كار نه دی.
څه تجويز ورته پكار دی.
ځيني نور بيا معتقد وو،
چي دا شخص عادي شخص نه دی
روحاني دی قلندر دی.
لوی خاوند د كراماتو مقاماتو،
په كلام كي ئي پټ پروت غيبي پيغام دی. (۱۵۸)
د زمان په تېروېدو سره، د لاروي د سياسي فعاليتونو په هكله په ښاريانو كي مختلف نظرونه پيدا كيږي. خو د لومړي كلونو كړاونه او يوازيتوب نور ختميږي. د لاروی حضور په ښار كي منل كيږي. آن دا چي ځيني ښاريان د يو روحاني او قلندر په سترګه ورته ګوري. ځيني ئي په كرامات او بزرګي مني. او ځيني ئې په كلام او وينا كي غيبي پيغام او د ازادی الهام اوري.
د مجروح لاروی يو كرت زيات ښاريان «د باراز په ورځ» د ښار په يو ستر ميدان كي يو ځای غونډويني. د خلګو ګڼه ګونه زياته وي، او لاوری له دې موقع څخه استفاده كوي، او كوښښ كوي چي ښاريانو ته د خپل ښار تېر او لرغونی تاريخ داسي ور په ياد كړي:
اې ښاريانو!
په يو وخت كي دلته ښكلی ښايسته ښار وو،
چمنونه شنه ځنګلونه تري چاپېر وو.
مست سيندونه ډک رودونه،
په دې سيمه كي هره خوا روان وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په ځير و لولئ

لويي لاري هر خوا تللي رسېدلي.
ماشومان به لوبېدلي د سيند په غاړه
ښه ځوانان وو ګرځېدل به،
ښکلي پېغلي سينګار کړي نڅېدلي.
هم د ميني راز او نياز وو،
ښکلول وو زغلول وو
محبت وو صفايي وه. (۱۵۹)
پدي ورځ، د لاروي د وينا متن او هدف تاريخي وي. خلګو ته ښر ښه او طلايي وختونه وريادوي. کله چي ښار ښايسته وو. چمنونه او ځنګلونه زرغونه ول. د ژوندون د مست سيند په غاړه ابادي وه. لويي لاري خلاصي وې، تجارت روان وو. پدې وينا کي کليدي کلمات هله «محبت وو صفايي وه.»
اي ښاريانو! راته واياست!
ګڼ ځنګلونه شنه باغونه،
واړه چا په اور لمبه خاوري ايري کړل؟
دلته ښار وو اوسېدل پکي ښاريان آزاد سرمسته،
نه بي بي وه، نه بادار نه فرماندار وو،
نه نوکر وو نه مريان نه وينځي مينځي.
دغه ښار يو هسي ښار وو،
نه خندق تري نه چاپېر نه کوم ديوار وو نه حصار وو
اي ښاريانو راته واياست!
هغه څه شو؟ چا ويران کړو، چا تباه کړو؟
څه بلا شوه پرې نازله؟ (۱۵۹-۱۶۰)
لاروی د ښار اوسنی بد حالت او پخوانی ښه وضع سره مقايسه کوي. پخوا ازادي وه، نوکر او بادار نه وو. دا ښار ښکلی ښار وو، نه خندق وو او نه هم کلا وه. او له خلګو څخه پوښتي چي دا چا وران کړل؟ لاروی غواړي چي د خلګو وجدان راويښ کړي.
د ښار خلګو دا خبري اورېدلی
په قاه قاه به ئي خندلی او ويلی—دا سړی رشتيا مجنون دی.
ځکه ځکه:
چي پخپله دوی ته ياد وو، د دې سيمي حال احوال زوړ.
هم پلرونو له نيکونو له اجدادو روايت کړو،
چي هميش له ښاره تل پروت دا خندق دا شان ديوال وو.
بهر هلته تل تر تله دا ډاکونه وچ دښتونه سپېره غرونه.
او دننه د ښار په مينځ کي،
هميشه دا شان مانۍ ولاړه هسکه،
پکي ناست تل زمامدار لوی قهرمان وو.
هم پلرونو هم نيکونه ئي تېر شوي واکداران زمامداران د خپل زمان وو. (۱۶۰)
د ښاريانو تاريخ هېر سوی دی، تاريخ مسخ سوی دی. د هغوی مغزونه پرېولل سوي دي. ستر ټولواک نه يوازي دا چي نوی تاريخ جوړ کړی دی، او له خپله ځانه ئي نوي واقعيتونه ساز کړي دي، بلکي د ځان او خاندان لپاره ئي جعلي شجره هم جوړه کړي ده.
لاروی هڅه کوي چي د خپلي وينا په ترڅ کي ښاريانو ته د ښار واقعي سياسي تاريخ بيان کړي. دوي متخلفي دوری سره مقايسه کړي. د خلګو شعور او احساس راژوندی کړي.
اي ښاريانو! راته واياست!
د دې سيمي لويي لاري چا ويجاړي کړي نابوده؟
د دې لارو سمو لارو لوی لوی پلونه
چا ويران کړل چا خراب کړل؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

تاسو نه ګورئ چې تاسو،
ځان پخپله په خپل لاس قلا بند کړی؟
په خپل لاس مو تور زندان ځانته جوړ کړی.
که پوهېږئ،
دغه کار ستاسو بې ځایه بېهوده دی.
ځکه هیڅ کوم غلیم نشته،
چې حمله په تاسو وکړي له کوم بل غلیم هیواده.
او نه بل کوم لوی خطر شته،
کوم خطر چې ور سره واړه مخ یاست،
هغه دلته په دې ښار کې دی دننه
کوم غلیم چې په رشتیا د ښار دښمن دی،
هغه هسې سړی خور دی،
چې خوراک ئې ستاسو زړه دی، ستاسو وینې دماغونه
دا غلیم بل ځای کې نه دی،
د دې ښار په مینځ کې ناست دی،
اوس نو وایاست!
دا پاخه لوړ دیوالونه حصارونه،
دا خندق ژور خندق د څه د پاره؟
اې ښاریانو دا زما خبرې واورئ!
زه یوه ورځې د یو ښکلي ښایسته ښار نه بهر لاړم
چې اوس راغلم بیا راستون شوم،
هغه ښار مې مونده نه کړو.
د هغه په ځای څه وینم؟
کنډوالې ویران ویجاړې،
او په دغو کنډوالو کې یو ښامار پروت
دا خبرې چې ښاریانو واورېدلې،
دا کرت چا نه خندله.
خو بیا هم دوی یو له بله سره ویلې:
دا سړی رشتیا مجنون دی لیونی دی. (۱۶۰-۱۶۲)

دلته لاروی غواړي چې ښاریانو ته تاریخي او سیاسي درسونه ورکړي. تېرې خاطرې ور په یاد کړي. لاروي وایي یو وخت په ښار کې پاخه سړکان، پلونه، او ابادي وه. نظم او اداره وه. ښاري خدمات ول. دا ټول چا خراب کړل؟ د وینا پدې برخه کې، د لاروي هدف دا دی چې له ښاریانو څخه داسې سوالونه وکړي چې هغوی خپل اساسي فکري انحراف او غفلت ته متوجه کړي.
لاروی ښاریانو ته وایي په تاریخ کې د ولسونو د انحراف اصلي سبب داخلي وي. اصلي ملامتیا د بومي خلګو وي. لاروی ښاریانو ته وایي چې د خندقونو، حصارونو، او جنګي کلاوو په جوړولو کې ئې سخته خطا کړې ده. ځکه هغه ور ته وایي چې ستاسو غلیم دننه او دورنې دی. ستاسو مشکل خپل مشکل دی. د نفس او شعور پرابلم دی. په اخر کې، لاروی ښاریانو ته وایي چې دا ښار زما په یاد دی، دا یو ښکلی ښار وو، خو اوس کله چې بېرته راستون سوم، یوازې کنډوالې او خرابې وینم.
له نیکه مرغه، دا پلا ښاریانو د لاروي پر خبرو نه خندل. پدې برخه کې لاروي څه پرمختګ کړی وو. یوه بله ورځ، لاروی یو ځل بیا د ښاریانو پر یو ستر جماعت ور برابرېږي. او د نیمو شپو لاروی هغوی داسې مخاطبه وې:
اې ښاریانو!
خبر نه یاست!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي يو وخت خو د دې سيمي زمامداره،
الهه د نو بهار وه؟
ټول عالم ئې پرستش كړو،
نيكمرغي وه،خوشحالي وه،
او اوس وينم چي هغه د ميني خدايه،
تاسو ټولو هېره كړې تركه كړې،
په دردونو په رنځونو مو ځانونه اخته كړي،
په اوهامو كې ډوب شوي
په غمو مصيبتونو گرفتار ياست.
اې ښاريانو!
آيا تاسو احساس نه كړئ؟
خبر نه ياست له هغه زهر قاتله
چي دا ستاسو په رگو په شريانو كي جاري شوى؟
او په زړونو كي در تويېږي څاڅكي څاڅكي؟
ايا تاسو په دې خپلو دواړو سترگو گناه كارو.
ليدلاى نه شئ
چي رنځونه درې ساري رنځونه
درې افته تل په تاسو مسلط دي،
قتلوي هلاكوي ستاسو واړه ستاسو زاړه ستاسو ځوانان ټول.
تاسو واړه د خپل سر په سترگو وينئ
چي د ښار ښايسته ښځي،
ښكلي ښكلي ماشومان او با تدبيره بوډايان خو
په نري رنځ د خپگان او غم اخته دي.
رنځوران دي، د عدم په لور روان دي.
او ځوانان قوي ځوانان مو
د غضب او قهر سخته تبه نيسي
يو بل وژني تويوي د يو بلويني.
واهمه او ډار خو هغه بد مرض دى
چي په ټولو باندي يو شان گډ جاري دى،
رنگوي مو د زړه خوني،
هر شيبه مو ځنكدن دى،
هره ورځ د مرگ په تمه. (۱۶۲-۱۶۳)
پدې وينا كي، اگاه لاروى خلگو ته وايي چي دلته يو وخت د ازادئ او عشق الهه زمامداره وه. هله نيكمرغي وه، خوشحالي وه. هله يوه ديموكراتيكه او متقي الهه حاكمه وه. مگر اوس تاسو هغه هېره كړې ده. او همدا سبب دى چي په مصيبت گرفتاره ياست. لاروي خلگو ته وايي چي مشكل په تاسي كي دى. ستاسو په نفسونو كي دى. ستونزه ستاسو په زړونو، رگونو، او شريانونو كي ده.
لاروى ورته وايي چي له يوې خوا مو د ښار ښځي، ماشومان، او زاړه د غم او خپگان په رنځ رنځور سوي دي، او له بلي خوا مو ځوانان افراطي سوي دي، قهريدلي دي، او «يو بل وژني، تويوي د يو بل ويني.» ستاسي ټولو په زوړنه كي د ډار او خوف ښامار ناست دى. تاسي هره ورځ د مرگ په تمه ناست ياست، او تاسو هره ورځ مرئ.
لاروى تر يو حده زموږ ننني حالت بيانوي (۲۰۱۷)!
اې ښاريانو!
ډيري سترگي نابينا دي،
ډير غوږونه ټپ كاڼه دي،
په دې ښار كي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

نه ړنا رشتيا رشتيا دلته څوک ويني،
نه آواز د حقيقت دلته څوک اوري.
روغ غوږونه بينا سترګي که پيدا کړئ،
نو به هله سرودونه د مستی د هستی واورئ،
نو به هله ړناګاني رنګارنګه د ژوندون خو،
په نظر کي در ښکاره شئ.
اې ښاريانو! تاسو خبر شئ!
تاسو واړه مبتلا ياست په دردونو په رنځونو
د دې هر څه علاج يو دی درمان يو دی:
د ليلی د پېنو خاورو ته سر کښېږدئ!
سجده وکړئ!
د ليلی پرستش وکړئ! (۱۶۳-۱۶۵)
د وينا پدې برخه کي، لاروی ښاريانو ته وايي چي تاسو يوه بيده او غافل ولس ياست. تاسي بې سده ياست. تاسي نه غواړئ چي د حقيقت ږغ واورئ. ستاسي سترګي ړندې او ستاسي غوږونه کاڼه دي. مګر بيا هم تاسي د نجات لاره لرئ، او هغه دا چي د آزادی الهی ته تسليم سئ. ازادی خپله ليلی وګرځوئ. او د ازادی پرستش وکړئ. همدا د خلاصون لاره ده. ازادي او حريت د انساني ژوندانه عالي هدف دی.
تر دې ويناوو راوروسته، د مجروح انقلابي لاروی د ښار لوی ديکتاتور پر ضد د نهايي ټکر لپاره خلک چمتو کوي. د ښار د مستبد حاکم سره جنګ اعلاموي. خلګو ته د انقلاب فرمان صادروي. خلګ د استبداد د ماڼی ړنګولو ته رابولي. پدې دوره کي، د نيمو شپو لاروئ چه ګوارا دی. يوه ټوټه انقلاب دی.
يوه ورځ د ښار په زړه کي په ستر ميدان کي زيات ښاريان راغونډ سوي وي. او لاروی ناڅاپه پر برابر سي. پدې وخت کي لاروی فول ټايم انقلابي دی، او هغه ښاريان داسي مخاطبه وي:
اې ښاريانو! ښه خبر شئ!
ستاسو ستر واکدار بادار خو،
تور ښامار دی،
تاسو واړه بندګان ياست،غلامان ياست،
د ښامار مار.
دا واکدار ستر زمامدار مو هميش تږی دی د وينو،
هسي تږی،
لکه وينو ته چي تږي وي د غرو رغو ليوان ټول
زړه ئې کلک لکه تور کاڼی د بيابان،
لکه سندان دی.
که هم وخوري غرونه غرونه ژوندي سري،
لوږه ئې لا پسي زيادت کا لا شدت کا.
په ليوانو کي ليوه له وږو وږی.
په درياب کي پروت نهنګ له تږي تږی.
اې ښاريانو!
ورشئ ورشئ!
خپل بادار ته له نژدې نه لږ څه ځير شئ!
هغه سترګي چي د ده دي، دوه د وينو کټوري دي،
هغه سترګي د ښامار دي.
د بادار هغه منګولي چي قوي دي پولادينې،
ستاسو زړونو کي ټومبلي کلکي ښخي،
دا منګولي د بلا دي،د ښامار توري بلا دي. (۱۶۶-۱۶۷)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د وینا پدې برخه کې، د مجروح انقلابي لاروی پر دیکتاتور باندې نېغ په نېغه حمله کوي. ستر تولواک له لیوه او حیوان سره تشبه کوي. تور ښامار ئې بولي. د ښار امیر غضب لکه وحشي حیوان تل د وینو تږي وي. لوږه ئې نه مړېدونکې وي. د دیکتاتور تیری او حرص حد او اندازه نه لري.
لاروی خلک دېته لمسوي چې د دیکتاتور تاریخ او شخصیت باندې یو ځل له سره تجدید نظر وکړي. د ښار د مستبد تولواک سیرت او اعمال له سره ارزیابي کړي. لاروی ښاریانو ته وایي چې د ښار تور ښامار ستاسي په زړونو کې خپلې منګولې ښخې کړې دي، او د هغه دا منګولې باید قطع سي.
لاروی د خپل نطق په وروستی برخه کې، په جامعه او فرد کې پر دروني او داخلي عنصر باندې ټینګار کوي. دلته لاروی غواړي چې خلک دېته اړ باسي چې پخپل ګریوان کې سر کښته کړي او خپل ځان ته وګوري. خپل زوړونه پاک کړي. خپل له زړه څخه ډار، حرص، بد خواهي، او ځانځاني ښامار راوباسي. لاروی غواړي چې خلګو ته دا درس ور کړي چې په ژوندانه کې تل خپل مسولیت ومني، او د خپلو مشکلاتو مسولیت او پېړه پر نورو وا نه چوي. د خپل ځان په انتقاد کې صادق او ریالیسټ واوسي. ځان پخپله اغفال نه کړي.
اې ښاریانو!
ښه خبر شئ!
دا بلا توره بلا چې دننه ناسته په دې ښار ده.
له کوم بل پردي هیواده خو راغلې دلته نه ده.
دا بلا ده په دې کور کې روزل شوې.
له دې سیمې پاڅېدلې،
پخپل لاس مو له خپل ځانه راویستلې،
په خپل ځان مسلط کړې،
دا بلا ستاسو بلا خپله بلا ده.
ځکه ځکه تاسو هر یو،
ښاماران ساتئ روزئ پټ
په سینو په خپلو زړو کې.
چې ښامار نور هم لوی شي زورور شي.
خلاصېدای له دې ښاماره نشئ
دا ښامار وژلای نه شئ
تر څو تاسو را پا نه څئ.
دا ښامار پخپلو زړونو کې مړ نه کړئ نابود نه کړئ
که د نفس بده بلا کړې څوک نابوده
نو به هله د بلا توري بلا څوک خوراک نه شي
که د خپل زړګي ښامار مو قرباني کړو،
نو به هلته تاسو نه شئ قرباني د لوی ښامار مار. (۱۶۷-۱۶۸)
لاروی د یو اګاه مبارز په حیث د یوې ټولنې په پرابلمونو کې د هغې جامعې د داخلي قواوو د میکانیزم، تضادونو، او جوړښت رول تر بل هر شي بارز ګڼي. د یو مسول مشر په توګه خلک خپل ځانته متوجه کوي. پرګنې د اجتماعي مسولیت منلو ته رابولي. لاروی بار بار خلګو ته وایي چې ستاسي نفس او زړونه خراب سوي دي، او له همدې سببه توره بلا در باندې مسلطه سوې ده. په اخر کې، دا اخطار هم ور کوي چې د جامعې د خلاصون یوازنۍ لاره دا ده چې خلک اول په خپلو زړونو کې ښامار وژني، څو د لوی ښامار قرباني نه سي.
اې ښاریانو!
لاندې هلته د هغې هسکې مانۍ په ژور تل کې،
لوی زندان دی،
زندانیان پکې پراته زنځیر تړلي.
پاڅئ پاڅئ!
زندانیان واړه آزاد کړئ!
زنځیرونه زولنې کړئ ماتې ماتې،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د زړګي د مانۍ هغه معماران چي شړل شوي،
تللي پټ دي چرته سمڅو مغارو کي
دا ماهره معماران بیا راستانه کړئ!
د زړه خونه دوباره کړئ پرې آباده.
تر څو تاسو د ښامار خوراک نشئ. (۱۶۹)
لاورۍ ښاریان انقلاب ته پاروي. ورته وايي چي پاڅئ جیلونه مات کړئ، زندانیان ازاد کړئ. ځکه پدې زندانیانو کي د ښار نخبه ګان، منورین، هنرمندان، او معماران شامل دي. لاورۍ ورته وايي چي دا معماران بېرته راستانه کړئ، خپل ښار او د خپل د زړه خونه پرې آباده کړئ. لاروی د ټولني په ابادولو او باثباته کولو کي د تحصیل کړده او منورینو نقش ته زیات اهمیت ورکوي.
د دې وینا پر وخت د ښار ستر راهب هم هلته په یوه ګوښه کي چپ ولاړ وي، او د لاروي ټولي خبري واوري.
راهب د ځان سره په سوچ کي سي، او داسي وايي:
دا سړی خو رشتیا مجنون دی لیونی دی.
ځکه ځکه
دغه سر د ټول اسرارو،
دغه رمز د ټول رمزونو،
دغه اسم محضه،
هسي هسي بې پردې بیانول آسان کار نه دی.
زه حیران یم،
چي دا رمز د ټول رمزونو ده په څه شان پیدا کړی؟
دا سړی ګر چي مجنون دی،
خو ښکارېږي له دې هسي بیانونو،
چي د حال مقام خاوند دی.
راهب پوه شو،
چي دا هسي شان بیان دغه خبري چي مجنون کړي،
دا خبري د دې ښار د عالم نه دي،
دا د بل جهان آواز دی.
یوه دنیا په رڼګېدو ده.
یو دفتر د زماني په ختمېدو دی.
دا خبري همه واړه رسېدلي فرماندار ته.
دی ښه پوه وو چي مراد د مجنون څه دی؟
نو ترخه خندا به ئي کړله زهرناکه
بیا ئي ووې:
دا سړی خو لیونی دی.
هم بې زوره بې قدرته.
د ښار نظم ته خطر پېښوی نه شي.
مګر ورو ورو،
ځیني ځیني د ښار خلک چي به کله شوه فارغه،
د شاقه سختو کارو نه،
نو د شپې به په تورتم کي غونډېدل دوی،
د مجنون ځیني خبري به ئي پټې یادولي،
ګونګوسی به ئي کول پټ
زندانیانو په تورتمو زندانو کي،
دا خبري اورېدلي،
په خپل زړه کي ئي ساتلي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

منتظر آماده ناست وو کوم فرصت ته. (۱۶۸-۱۷۰)
د لاروي دې فصیح او تارخي وینا نه یوازي د ښار د لوی راهب نظر ور بدل کړ، بلکي د نورو ښاریانو په ذهن کي هم د لاروي په برخه کي مثبت نظر مخ په زیاتېدو سو. دلته حتی د ښار ستر راهب لا وایي چي دا اسرار او رمزونه داسي ازادنه په عام محضر کي ویل اسان کار نه دی، او د راهب په ګومان لاروی د «حال او مقام خاوند» دی. او یقینا دا د بل جهان آواز دی.
راهب پوهېږي چي د تاریخ یوه دوره مخ پر ختمېدو ده، او یو نوی پړاو پیلېږي. د زماني یو دفتر تړل کېږي، او یو نوی فصل شروع کېږي. استبداد سقوط کوي. لدې وینا راوروسته، لاروی په ښاریانو کي په یو محبوب او ولسي مشر باندي بدلېږي. او حتی زندانیان هم یو فرصت ته انتظار ناست دي، هغوی هم پوهېږي چي اوس یا وروسته به استبدادي نظام له مینځه ځي، او ډیر ژر به هغوی بیا ازاد سي.

په ارګ کي د دیکتاتور، لاروي، او د آزادی د الهي نهایي ملاقات:

د دیکتاتور، د آزادی د رب النوعي، او لاروي نهایي ټکر هله پیښ سي چي امیر غضب بالاخره دېته اړ سي چي لاروی او د آزایٔ الهه خپل دربار ته ور وغواړي. پدې ناسته کي، دیکتاتور پوهېږي چي نور ئې وخت ختم سوی دی. دوران ئې پای ته رسېدلی دی. او یو سیاسي انقلاب او بدلون راتلونکی دی.
ستر ټولواک له هغوی څخه پدې غرض پوښتني کوي، څو د هغوی اصلي هدف، مقصد، او مرام ځانته معلوم کړي. لنډه دا چي ډیبریف ئې کړي.
فرماندار لومړی مخ واړاو لاروي ته،
په زېږه ترخه آواز ئې ورته ووې:
اې پردیسه مسافره!
چي د بل پردي هیواد ته ئې راغلی.
په دې ښار کي اوسېدلې،
موږ پناه تا ته در کړې!
زه خو اورم چي ته خلک رابلې تل،
چي د خپل پلرونو نیکونو معبد پرېږدي،
پخواني دود رواجونه کړي همه تر پښو لاندي،
د زړو خپلو پخوانیو عقایدونه لاس واخلي،
او د دې ګدایي ګري ناشنا پیغلي پرستش ته غاړه کښېږدي.
دا رشتیا ده؟ (۱۷۲)
دلته دیکتاتور لاوری، لکه سقراط، د نویو عقایدو او خدای په معرفي کولو باندي تورنوي. ورته وایي چي ته خلک له خپل تاریخ او فرهنګه لیري کوې، ته زموږ پخواني فرهنګي رواجونه تر پښو لاندي کوې. لاروی ستر ټولواک ته داسي جواب ورکړي.
اې د کل جهان باداره فرمانداره!
ستا معبد خو نوی نوی نو بنا دی.
نه ئي کلک نه ئي پاخه دي دیوالونه،
نه ژور مستحکمه تهدابونه.
د دې سیمي رښتینی اصلي واکداره،
رب النوعه د بهار وه، الهه د عشق او میني.
په دې ځای کي میشته خلګو،
د هغي ښکلي دلداري پرستش کړو.
چمنونه شنه دښتونه ئې معبد وو.
د زړه مینه د هغې د عبادت ځای.
زه چي تلمه لدې ځایه،
هغه ښکلي نیمه خدایه په بستر د شنیلو لا ګرځېدله.
غرڅنو ئې شنه لمنه بویوله ښکلوله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس چي بېرته راستون شوی،
هري خوا ته ريګستان دی، و چي و چي صحراګاني.
بيابانونه د اغزو ډک تري را تېر شوم.
نه چمن وو نه باغونه نه ځنګلونه.
چي راورسېدلم دلته،
نو ليدل مي:
چي د زړه خونه ويرانه ړنګه ړنګه کنډواله ده.
هم دننه پکي ناست يو تور ښامار دی.
خلګ وينم چي روان دي په بي لارو شړو لارو،
پرستش د اژدها کړي.
اي د کل جهان واکداره!
زه اوس دا لوی حقيقت بيانومه هر هر چا ته. (۱۷۲-۱۷۳)
لاروی ديکتاتور ته وايي چي تا تاريخ تحريف کړی دی. ستا لاره او دين نوی او بي بنياده دی. د دي ملک اصلي واکداره د «عشق او ميني» الهه وه. دلته خوشحالي وه، آزادي وه. مګر له هغه وخت راهيسي چي تا قدرت غصب کړی دی، او ستا نامشروع حکومت روان دی، دلته هر څه په ريګستان بدل سوي دي. هر څه وچ او تباه دي. لاروی وايي چي کله زه بېرته خپل وطن ته راستون سوم، ما وليدل چي د زړونو خونه ورانه او ړنګه سوې ده. خلګ ګمراه سوي دي. د اژدها پرستش کوي. د يو نامشروع ديکتاتور حاکميت ئي منلی دی. خو اوس چي زه راغلی يم زه هر چا ته حقيقت وايم، زه افشاګري کوم. زه ستا تخت او بخت در خرابوم.
د غضب اور ئي لمبه شو په څېره کي.
يوه شېبه نيمه په چرت شو.
بيا ئي وکړه يو خندا د زهرو ډکه.
ځان سره ووې:
پروا مه کړه!
دا سړی خو ليونی دی بي قدرته ناتوانه.
بيا ئي مخ کړو لاروي ته د دوهم کرت د پاره.
په پسته ظاهري ژبه ئي تپوس کړو:
اي پردېسه مسافره!
راته وايه!
د دي ښار ښکلو نجونو کي تا څنګه غوره کړي،
دا خيرنه دا سوالګره بي کماله بي جماله؟
او زما وفادار خلګ زحمت کښه رعايا بيا،
رابلي ته چي سرونه په سجده ورته نسکور کړي؟
د استبداد د سقوط يوه علامه دا ده چي ستر ټولواک غفلت کوي، او لاروی يو ناتوانه او بي قدرته کس انګېري. دغه راز غواړي چي د آزادی د رب النوعي تحقير کړي، او سوالګره،بي کماله، او بي جماله ئي يادوي. بلخوا، ستر ټولواک غواړي چي لاروي ته ښايسته ښځو د وړاندي کولو غير مستقيمه بلنه هم ورکړي. غواړي چي لاروی فاسد او کورپټ کړي. د لاروي څخه سوال کوي چي ته ولي زما رعايا (مملکت خدا داد) زما پر خلاف راپاروی، او د ازادي د الهي حاکميت ته ئي رابولې؟
لاروي ورته جواب کړو:
اي د کل جهان باداره فرمانداره!
خبر نه ئي؟
د ښامار زور قدرت خو فقط پروت دی،
په هغه بېره او ډار او واهمه کي،
چي دا خلګ پری اخته دي.
که دا بېره شي زايله،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دغه ډار او واهمه له مینځه لاړ شي،
نو ښامار يو دم سقوط کړي نابود کيږي.
ښه پوهيږي:
د ښامار د قدرت رمز او د ښامار د مرګ طلسم فقط دا دی.
او همدا شان
د بهار د رب النوعي زور قدرت خو،
فقط پروت دی، د ژوندو زړونو په شور کي.
سر مستی چي شي محدوده،
آزادي چي شي تبعيده.
ښاپيرۍ د عشق سقوط کړي،
ځانګ ورزي ئي ماتيږي.
دا ليلی دا شين کميس ناشنا پيغله،
چي هيڅوک تري خبر نه دی د هيچا پرې نظر نشته،
دا يو وخت کي الهه د نو بهار وه.
دا خو هغه زمانه وه،
چي مستان آزادګان ټول
د دي سيمي واکداران وو.
بيا چي کله واهمي او ېېري ډار زوړنه تسخير کړل،
بينايي له سترګو لاړه.
خلک واړه شول محرومه،
له دي هسي هميش ځواني هم لرغوني رب النوعي له ديداره.
خلګو واړول مخونه له هغي نه.
د ښامار په پرستش ئي کړل لاس پوري.
نو هغه بيا بهر ووته له ښاره.
هلته کښيناسته په خاورو،
د هغي لاري په خوا کي،
د خيل ورک مسافر لاره ئي ځارله.
دا خو هغه مسافر وو، زوړ اشنا د زمانو اوږدو قرنونو،
چي تري ورک و،
ورک د ورک سمندر غاړو پوري تللی،
اوس راغلی راستون شوی.(۱۷۴-۱۷۶)
دلته لاوری بېرته خپل پخوانی استدلال بيا تکراروي، او فرماندار ته وايي چي ستا حکومت پر ډار، ترور، او اختناق باندي ولاړ دی. ستا د استبدادي نظام اساسا د خلګو پر ډارولو باندي بنا دي، خو هر کله چي دا ېېره او وهم د خلګو له زوړنو څخه ووځي، بيا نو ستا تخت او بخت ورانيږي. ستا ظلم او استبداد ختميږي.
لاروی د ښار ديکتاتور ته وايي چي د ازادی د رب النوعي زور او کشش د خلګو په زوړونو کي پروت دی. د دي د حاکميت په دوران کي، آزادګان او مستان د سيمي واقعي واکداران ول. هله عشق وو، دوستي وه، او برابري او مساوات وو.
مګر کله چي خلګو د ازادی حمايت خوشي کړ، او ستا استبداد حاکم سو. دا هم له ښاره ووتله، او د لاري پر سر ناسته وه، او د يو انقلابي ناجي په تمه ئي انتظار کاوه. او اوس، زه، د انقلاب استازی، بيا راستون سوم.
خو افسوس چي،
دلته سترګي ډيري سترګي نابينا دي،
رڼاګاني د رشتيا د حقيقت ليدلای نه شي.
ډير غوږونه ټپ کاڼه دي،
تراني د ژوندانه اوريدی نه شي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

كه نه يو نظر پكار دى د ليلى په ښيري بشر ته،
د ژوندون د سپين سبا رڼا ځلېږي،
خو افسوس چې بينايي په چا كي نشته،
خبر نه دي ليلى څوک ده.
بيره ډار او واهمي خو،
د دي خلگو په غوږونو زړونو ستركو ناشنا مهر لگولى.
اورېدى نه شي آواز د حقيقت نور،
او د دې سيمي ټول خلک
چې تل ويني ستا ښېره كي،
سرې لمبې د غضب قهر،
ليدلاى نه شي رڼاكاني د رشتيا د حقيقت هيڅ،
اې واكداره! زمامداره!
ستا سقوط ستا انحطاط خو زه ښه وينم،
ستا په بېره ستا په ډار كې. (۱۷۶-۱۷۷)
لاروى د خلگو د سياسي وضعيت جاج اخلي، او وايي چې ښاريان ړانده او كاڼه دي. د زوړنو چينه ئي وچه سوې ده. پر زړونو ئي مهرونه لگېدلي دي. ستا حاكم اختناق هغوى دونه ډارولي دي چې حقيقت ليدلاى نه سي. د حق پلوي كولاى نه سي. مگر اوس زه ستا سقوط او انحطاط په ستركو گورم، ځكه ته د خلگو له زوره ډارېږې. انقلاب را روان دى. دا انقلابي جريان به نور هم قوت واخلي، او ستا سلطنت به ړنگ كړي.
ښه خبر شه!
هغه شور ما شور چې اورې ته په شپو شپو،
دا به نور لا پسي زيات سي.
سر مستان آزاد گان ټول شورشيان به،
زولني كړي خپلي ماتي،
له بندونو زندانونو نه به را ووځي.
قلاكاني حصارونه به په اور لمبه كړي.
رڼاكاني به پيدا شي.
ړندې ستركي به بينا شي. (۱۷۷)
دلته لاروى امير غضب ته اخطار ور كوي چې ستا دور ختم دى. ستا د حاكميت اخر شپې رارسېدلي دى. ځكه ډېر ژر به جيلخاني ماتي سي. سياسي قيديان به ازاد سي. ستا حصارونه او كلاكاني به ماتي كړي. د خلگو ستركي به بينا سي، او عمومي انقلاب او قيام به وكړي. د لاروي خبرو ته د ديكتاتور حوصله ختمېږي، او د آزادى له رب النوعي سره سوال جواب شروع كوي، او غواړي چې د هغي له حال او احواله ځان خبر كړي.
ستر واكدار چې دا خبري واورېدلې،
ډير په قهر په غضب شو.
هم د زړه په ژور تل كې،
له مجنونه بيره ډار ورته پيدا شو.
مخ ئي واړاوه په قهر په غضب بيا،
ناشنا پيغلي ته ئي غږ كړو، ورته ووې:
اوس ته وايه چې ته څوک ئې؟
شاليلى ښيري گريوانه،
كبرجنه بې پروا هلته ولاړه،
په مكيز مكيز مسكى شوه.
كوم يو دوري دوري ځاى ته ئي كتله.
خوږ آواز ئي،
د مانى په دهليزونو تالارونو،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د مانی لاندي دننه تاخانو کي،
انګازې ناشنا کولې.
داسي ووې:
زه خو زه یم! زه لیلی یم!
زه د میني رب النوعه، الهه د نو بهار یم.
زما ملک خو هغه ځای دی،
چي سر مسته شورشیان ئې واکداران دي.
د آزاد و مینانو زړه زما د قدم ځای دی.
****
زه به ځم بیا به کښېنمه بهر هلته،
بیا به لاره زه څارمه،
چي بهار یو ځل بیا راشي،
راستانه شي سر مستان ټول،
مینان د آزادۍ انقلابونو. (۱۷۷-۱۷۹)
د ازادی او عشق الهه ستر تولواک ته وایي چي زه د آزادګانو او مېړونو په وطن کي حاکمیت کوم. ذلیل او زبون ولسونه ما نه سي ساتلای. ځکه زما ساتل قرباني غواړي. اما او اوس زه ځم څو د آزادۍ مینان او انقلابوبیون پیدا کړم، بیا به د استبداد مانۍ ړنګه کړم. خو حقیقت دا دی چي انقلاب او ازادي راتونکي ده، او ستا د استبداد دوران ختم دی. کله چي د آزادۍ الهه او لاروی ستر دیکتاتور په ولسي قیام باندي تهدیدوي، ستر تولواک ډارېږي، او د توقیف امر ئې نه ورکوي. ځان پخپله غولوي او وایي:
دا خو دواړه لیوني دی.
زه بېرېږم،
چي د دوی له لیونتوبه کوم خطر را ولاړ نه شي.
کوم ساري لیونتوب نه وي او په نورو پوري نه شي.
د ښار خلګ ټول اخته په جنونه نه کړي.
بیا فوري لاروی او لیلی دواړه
وشړل له خپل درباره له حضوره.
****
لاروي د نیمو شپو خو،
د هغي سیمي د خلګو په ذهنو کي،
لوی مقام و پیدا کړی،
د غیبي قدرت خاوند ورښکارېدلو.
فرماندار وبېریده چي،
دغه شخص که زنداني کړي یا ئې وشړي له ښاره،
کوم شورش کوم بغاوت را پیدا نه شي،
نو ئې ځکه لاروی نه زنداني کړو نه ئې وشاړه له ښاره.
چاره بله پاتي نه وه،
دا خو ځکه چي بېشماره زندانونو تاخاني وې زمکي لاندي،
واړه واړه وو ډک شوي،
په یاغیانو شورشیانو لیونیو،
د لیلی او مجبون د پاره ځای پکي هیڅ نه وو. (۱۸۰-۱۸۱)
که څه هم د ښار دیکتاتور د اوضاع په وخامت باندي پوهېږي، خو د لاروي او د آزادۍ د رب النوعي پر ضد کوم اقدام نه کوي. او داسي ښکاري چي نور یې عقل او بصیرت له مینځه تللی دی، او فکري نظام ئې فلج سوی دی. بلخوا، دیکتاتور ډارېږي چي د لاروي په بندي کولو سره ښایي په ښار کي عمومي بغاوت رامینځته سي. دوهم دا چي امیر غضب دونه خلګ بندیان کړي دي چي نور په محبسونو کي ځای نسته، او بېشماره سیاسي مخالفان، منورین، لیکوالان، او هنرمندان پکي قیدي ول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## ابدي څرخ

پدې وروستي فصل کي، مجروح یو کرت بیا د خپل سیاسي فلسفي مهم ټکي او د تاریخ د فلسفي جریان راته بیانوي. دلته مجروح د استبداد او دیکتاتوري اختتام ښیي، او دا راته وایي هیڅ شی ابدي نه دی. استبداد هم یوه ورځ حتما ختمیږي. وخت ئي پوره کیږي، او د زمان وینه ئي بالاخره بدنه خوري. پدې فصل کي، دیکتاتور نور د عدم په لور روان دی. د مانۍ دیوالونه ئي درزونه کوي. په ښار او زندانونو کي د شورشیانو اعتراضات او مظاهرې ډیریږي، او د خلکو عمومي مخالفت ورځ په ورځ زور اخلي.

استاد مجروح د خپل اثر په نتیجه کي داسي فکر کوي چي د ازادۍ او دیکتاتوري تر منځ شخړه به ابدي وي. دا مبارزه به دایما د انسان او جامعي په ژور بطن کي روانه وي. که انسانان هوښیار، مسول، او په سیاسي چارو کي دخیل وي، هله به ازادي، امن، او خوشحالي وي. خو کله چي بنیادمان د ځانځاني ښامار ښکار سي، خود پرستي زیاته سي، غفلت وکړي، او له تاریخه بې خبره سي، هله به دیکتاتوري حاکمه وي.

مجنون پاتي حال ویجاړې هلته ناست وو،
د خپل ښار په کنډواله کي.
د عالم په تماشه وو.
د زمان دفتر برسیره ورته پروت وو،
له اغازه تر انجامه
له ذري تر کهکشانه
هم ماضي او مستقبل غاړه غاړې وو،
****
تر څو شپه یوه د شپو وه،
لاروی په کنج کي ناست وو.
د افق توري لمني ته ئي کتله.
یو ناځاپه ورښکاره شوې، هلته دوري،
رڼاګاني زیاتي، زیاتي، په تورتم کي ځلیدلي.
دی راپاڅېده له ځایه، په رڼا پسي روان سو.
ټوله شپه ئي مزل وکړ.
چي سبا شو سپین سبا شو،
لاروی د یو سیند غاړي ته نژدې شو.
سیند اوار ډک بهېدلو،
د سیند غاړي وې آبادي.
چمنونه شنه پراته وو، سره ګلونه غوړېدلی.
باغ او بڼ کي د مرغانو شورماشور وو
پیغلي نجوني ښکلي ښکلي.
ښه ځلمی ښایسته ځوانان وو.
محبت و صفایي وه، ښکلول وو زغلول وو.
مشران سپین ږیري ناست په ډېره کي،
مرکې وې مشورې وې
ماشومان د سیند په غاړه لوبیدل ټول
شورماشور وو غلغلې وې.
او بیا هغه ناشنا پیغله
زوړ کمیس خیري ګریوانه،
ګرځېدله مسته مسته خرامانه،
شین کمیس نرۍ شفاف ئې وو په تن کي نوی نوی.
د وحشي ګلونو تاج ئې پاس په سر پروت.
****


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

لاروی د نیمو شپو چي دا حال ولید،
بي اختیاره په خندا شو.
ځکه پوه شو،
چي له سره بیا شروع سو، یو ځل بیابیا،
زوړ داستان د قهرمان ستر پهلوان ستر،
او د ښکلي رب النوعي الهي د عشق او میني،
یو ځل بیا له سره پیل شوه
افسانه لویه اوږده د تور ښامار مار. (۱۸۲-۱۸۸)

## نتیجه:

کله چي لاروی د تاریخ فلسفه درکوي، او د آزادی او استبداد تر مینځ د ابدي مقابلي په اسرارو باندي واقف کیږي، هغه خاندي او لدې کشف ښخه لذت وړي. لاروی پوهیږي چي هر انسان، هر نسل، او هره تاریخي دوره به د آزادی او اختناق تر مینځ دا دایمي مبارزه امتحانوي. دا جنګ به تلپاته وي. د عدالت او ظلم تر منځ، د مساوات او نابرابری تر مینځ، او د نور او ظلمت تر مینځ به مدام د تاریخ په ژور تل کي جنګ، جدل، او زورازمایي دوام لري.

والسلام
واحد فقیري – واشنګټن
د مارچ ۱۶، ۲۰۱۷


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ